رواداری
RAWADARI

# په افغانستـــــان کی د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میـــاشو کـــې د بـــشر حقونو وضعیـــت

اگست ۲۰۲۵



رواداري یو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پریتوب د اصل په بشپړ رعایت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شویو نړیوالو اصولو او معیارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پیښې، څرنگه چې پېښې شوې دي، په ریښتینولۍ خپروي.

# د مطالبو لړلیک


سریزه ۳

د معلوماتو راټولولو تګلاره ۵

اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودیتونه ٦

**لومړۍ برخه- د مدني او سیاسي حقونو نقض** ۸

د ژوند د حق نقض ۹

د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله اوښتې مرګ ژوبله ۱۰

د ماینونو او له وسله والو شخړو څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله پېښه شوې مرګ ژوبله ۱۱

هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۱۳

د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د مستندولو محدودیتونه ۱٤

د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د مرتکبانو د تعقیب لپاره د طالبانو اقدامات ۱۵

د مخکني حکومت د کارکوونکو سازمان شوې وژنې ۱٦

د مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ د تورنو کسانو له محاکمې پرته وژنې ۱۹

د نورو ملکي هیوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې ۲۰

اجباري تري تم کول ۲۱

خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۲۳

د خپلسرو او غیرقانوني نیونو عاملان ۲٤

الف- د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نیونې ۲۵

ب- د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو خپلسرې نیونې ۲٦

ج- د طالبانو د مخالفو ډلو د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې ۲۹

د- د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد ۳۰

د انساني کرامت د حق نقض ۳۲

الف- د زندانیانو شکنجه کول او ورسره ناوړه چلند ۳۲

د شکنجې ډولونه او لارې چارې ۳۳

د بندیانو وژنه ۳٤

د طالبانو د زندانونو د څارنې د میکانیزم نشتوالی ۳٦

ب- د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو پلي کول ۳۷

۱. د سنګسار او قصاص سزا ۳۷

۲. بدني مجازات ۳۸

۳. د غیرانساني سزاګانو نورې بڼې ٤۰

د سوله ییزو راټولېدنو او لاریونونو ځپل ٤۱

**دویمه برخه- د ښځو د بشري حقونو وضعیت** ٤٢
١ - د زده کړو پر حق د محدودیتونو سختوالی ٤٣
د نجونو ماشومانو لپاره د حجاب او شرعي محرم مکلفیت ٤٤
ښځو ته د تعلیمي خدمتونو ورانديې کولو له امله د ښوونکو نیول ٤٤
٢ - د کار له حق څخه د محرومیت دوام ٤٦
٣ - روغتیایي او درملیزو خدماتو ته محدود لاسرسی ٤٧
د مرکه شویو روایتونه ٤٨
٤ - د آزادانه تګ راتګ د حق نقض ٤٩
د مرکه شویو روایتونه ٥٠
٥ - عدالت ته د لاسرسي نشتوالی ٥٢
ښځو سره د تاوتریخوالي پېښو ته نه رسېدل ٥٢

**درېیمه برخه- د ژبنیو منونکو قومي او مذهبي ډلو وضعیت** ٥٤
١ - د دولتي خدماتو او پراختیایي پروژو په ورانديې کولو کې له قومي او مذهبي ډلو سره تبعیض ٥٥
٢ - په ګمارنه کې توپیري چلند ٥٦
٣ - پر مذهبي آزادیو د محدودیت لګول ٥٧
د مذهب بدلولو ته د اسماعیلي شیعه ګانو اړیستل او د حنفي فقهې ورزده کول ٥٨

**څلورمه برخه: پایله او وړاندیزونه** ٦٠
پایله ٦١
وړاندیزونه ٦٢

# سـريـــزه

دا راپور د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت څېړنه او شننه کوي او په ځانګړي ډول د مدني او سیاسي حقونو، د ښځو د حقونو او د متضرربېدونکو قومي او مذهبي ډلو د حقونو د نقض موارد مستندوي. دغه راپور له لومړنیو سرچینو او په لویه کچه د قربانیانو له کورنیو او عیني شاهدانو سره د مرکو د معلوماتو پر بنسټ جوړ شوی، چې په یادو برخو کې د بشر حقونو د نقض د عواملو پر ارزونې او د هیوادوالو پر ژوند د دې عواملو پر ناوړو اغېزو  تمرکز کوي.

د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمايي کې د راټولو شویو اطلاعاتو او شواهدو پر بنسټ، د ژوند د حق د نقض یو شمېر بېې، لکه په ځانمرګو او انفجاري بریدونو، د ماینونو او د جګړې د نورو پاتې شونو په چاودنو کې مرګ ژوبله کمه شوې؛ خو د هدفي او له محاکمې پرته او مشکوکو وژنو کچه د ۲۰۲۴ کال د ورته وخت په پرتله ۳۰ فیصده زیاته شوې ده.

شته شواهد ښیي چې د مخکني حکومت کارکوونکي، خبریالان، د بشر حقونو مدافعان او د طالبانو په مخالفو ډلو کې په غړیتوب تورن کسان لا هم له محاکمې پرته وژل کیږي، په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول کیږي، تري تم کیږي او شکنجه کیږي.

د ښځو د بشري حقونو وضعیت هم د راپور په دې دوره کې خورا کړکېچن شوی دی. ځکه طالبانو د تبعیض په سختوالي او د لا ډېرو سازمان شویو محدودیتونو په لګولو په بېلابېلو برخو کې د ښځو حقونه او بنسټیزې آزادۍ ځپلې دي. په دې محدودیتونو کې د ښوونځیو په ابتدائیه دوره کې د نجونو زده کوونکو لپاره د شرعي محرم او د امربالمعروف اداري د خوښې حجاب اړین ګرځول، د غیر رسمي تعلیمي مرکزونو تړل او د دې مرکزونو د مسئولینو نیول، شرعي محرم نه درلودونکو ښځو ته د درملیزو او روغتیایي خدمتونو نه ورانديې کول، عمومي ځایونو ته د ښځو د لاسرسي محدودول او په ځینو سیمو کې مذهبي ځایونو او جوماتونو ته لاسرسی محدودول د راپور په دې دوره کې د طالبانو سیستماتیک او تبعیضي اقدامات دي. دا هغه وضعیت دی چې د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې د جنسیتي تعذیب او د بشریت ضد د جنایت مصداق ګڼل کیدای شي.

له بل پلوه، ترلاسه شوي شواهد ښیي چې د هیوادوالو د شخصي آزادۍ او امنیت درلودلو حق د نقض کچه د «امربالمعروف او نهه عن المنکر» په نوم د قانون د پلي کولو له امله په ټول هیواد کې د پام وړ زیاته شوې ده. لکه څنګه چې طالبانو په پراخه کچه خلک د پوښاک د ډول، د ږیرې او ویښتو د اندازې او ډول، د موسیقي اوریدلو او له نامحرم سره د خبرو کولو له امله په خپلسري او غیرقانوني ډول نیولي دي. له همدې امله، د دې راپور ورکولو په موده کې د خپل‌سري او غیرقانوني نیونو شمېر د ۲۰۲۴ کال د ورته راپور ورکولو دورې په پرتله دوه برابره زیات شوی دی

همدا راز، د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو د روان کال په لومړۍ نیمايي کې په تاوتریخوالي او د زور په کارونې، اعتراضي راټولېدنې او لاریونونه ځپلي، او لاریون کوونکي یې نیولي، بندیان کړي او حتا وژلي دي. دا هغه وضعیت دی چې د وېرې او ډار د فضا د پراختیا او د مخالفو غږونو، مدني او ټولنیزو اقداماتو د ځپلو لپاره د هدفي سیاستونو د دوام ښکارندويي کوي.

سربېره پر دې، ترلاسه شوي شواهد ښيي چې د طالبانو محکمو د راپور په دې دوره کې په پراخه توګه د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو مجازاتو د پلي کولو حکم ورکړی دی. اعدام، سنګسار، بدني سزاوې او د سپکاوي په موخه د تورنو کسانو د مخ تورول هغه موارد دي چې له ټول هیواد څخه راپور شوي دي. په دې راپور ورکولو موده کې ثبت شوي معلومات ښيي چې د بدني سزا د تطبیق شمېر د ۲۰۲۴ کال د لومړنیو شپږو میاشتو په پرتله دوه برابره زیات شوی دی

متضرربېدونکې قومي او مذهبي ډلې هم د روان کال په لومړیو شپږ میاشتو کې کاري فرصتونو ته د عادلانه لاسرسي، دولتي خدماتو، بشرپالو مرستو او له ملي سرچینو او امکاناتو څخه د ګټې اخستنې په برخو کې له تبعیض سره مخامخ دي. همدا راز، حاکمې ډلې په دې موده کې پر مذهبي مناسکو سخت محدودیتونه لګولي، بېلابېل مذهبي عقاید یې ځپلي او حتا اقلیتونه یې د مذهب بدلولو ته هم اړیستلي دي.

تمه کیږي چې په دې راپور کې راغلي وړاندیزونه د نړیوالې ټولنې، د ملګرو ملتونو سازمان، د بشر حقونو د بنسټونو، حاکمو چارواکو او ټولو اړوندو مراجعو د پاملرنې وړ وګرځي او د بشر حقونو د ملاتړ او د افغانستان د ټولو خلکو د انساني کرامت د تضمین په برخه کې عملي او اغېزناک ګامونه واخستل شي.

# د معلوماتو راټولولو تګلاره

روداري د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشري حقونو د نقض اړوند د مستندولو او معلوماتو راټولولو لپاره په پرله پسې توګه د قربانیانو، د قربانیانو د کورنیو، عیني شاهدانو، بشر حقونو مدافعینو، خبریالانو، د ښوونځیو ښوونکو او د پوهنتونونو د استازانو، دولتي ادارو کارکوونکو، مدافع وکیلانو، سیمه ییزو خبریالانو، د روغتیایي برخې د کارکوونکو او اړوندو ملي او بین المللي سازمانونو په ګډون، له ډېر شمېر سیمه ییزو سرچینو سره د هیواد په ۳۲ ولایتونو[1] کې مرکې کړې دي. د روداري څارونکو له پوښتنپاڼو څخه په استفادې او د مخامخ مرکو له لارې یا د تلیفون له لارې، د څېړنې او امنیتي اصولو په رعایتولو سره، د بشر حقونو د نقض اړوند موارد په میاشتني ډول راټول کړي او د دې بنسټ د څېړنې ډلې ته یې لېږلي دي.

د روداري د څېړنې ډلې، د معلوماتو راټولولو د بهیر مخامخ څارنه کړې، او سیمه ییزو څارونکو ته د پرله پسې مشورو او لارښوونو له لارې یې ټول ترلاسه شوي معلومات ارزولي او کره کړي دي. دا اطلاعات له تائید وروسته په الیکترونیکي سیستم کې خوندي شوي او ساتل شوي دي. سربېره پر دې، نور مدارک او شواهد لکه لیکلي اسناد، انځورونه او نور رسمي مستندات هم په تېرو شپږو میاشتو کې راټول شوي او د مرکه شویو کسانو د څرګندونو او روایتونو سره سمون ورکړل شوی دي. د همدې له مخې، هغه څه چې په دې راپور کې مطرح شوي، د کره او تائید شویو اطلاعاتو ټولګه ده چې له یادو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي. هغه موارد چې د شته محدودیتونو او ننګونو له امله یې د تائید او اعتبار لپاره کافي شواهد نه دي ترلاسه شوي، له راپور څخه حذف شوي دي.

سربېره پر دې، د روداري او نورو اړوندو بشري حقونو بنسټونو د مخکنیو موندنو او راپورونو څخه هم د بشر حقونو د نقض د لویو بېلګو پېژندلو او د دې راپور د منځپانګې د تحلیل او شننې لپاره، د تکمیلي شواهدو په توګه ګټه اخستل شوې ده.

راټول شوي اطلاعات، د کیفي او تطبیقي روش او تګلارې په کارولو او د بشر حقونو د نقض د ګډو بېلګو او شاخصونو د پېژندنې لپاره، په درې بنسټیزو برخو کې تحلیل شوي دي. د راپور لومړۍ برخه د مدني او سیاسي حقونو د وضعیت ارزونې لپاره ځانګړې شوې، او په وروستۍ نورو برخو کې د ښځو او زیان منونکو قومي او مذهبي ډلو بشري حقونو وضعیت ارزول شوی دي. همدا راز، د ۲۰۲۵ د لومړیو شپږو میاشتو اړوند اطلاعات په ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو کې له ورته مهال سره پرتله شوي دي.

د یادونې وړ ده چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې زیاتیدونکو محدودیتونو ته په پام سره او د بشر حقونو د نقض په مستندولو کې شته خنډونو ته په کتو، د شمېرو کموالی چې د دې راپور په ځینو برخو کې لیدل کیږي، خامخا د وضعیت د ښه والي معنا نه لري، بلکې دا ممکن د اطلاعاتو په راټولولو کې د خنډونو ښکارندوی وي. له بل پلوه، د دې راپور د برابرولو موخه یواځې د شمېرو وړاندې کول نه، بلکې په دې هیواد کې د بشري حقونو د روان وضعیت شننه او یو مستند انځور وړاندې کول دي.

1 هرات، نیمروز، بادغیس، دایکندي، غور، فراه، خوست، پکتیا، پکتیکا، کابل، پروان، میدان وردګ، سمنګان، غزني، بدخشان، کندوز، تخار، بغلان، ننګرهار، کنړ، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، بامیان، لوګر، فاریاب، بلخ، جوزجان، نورستان، لغمان او پنجشېر.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي محدودیتونه

طالبانو د راپور په دې دوره کې د ۲۰۲۴ کال د لومړي شپږو میاشتو په پرتله اطلاعاتو ته پر لاسرسي لا پراخ او سازمان شوي محدودیتونه لګولي دي. داسې چې د دوی د استخباراتو اداره په ټول هیواد کې د رسنیو، مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعینو او حتا د خواله رسنیو د کاروونکو فعالیتونه څاري، او هغه کسان چې د بشر حقونو د نقض اړوند اطلاعات خپاره کړي، په نښه کوي یې، څېړني تري کوي او شکنجه کوي یې. دا اقدام د بشر حقونو د نقض د مواردو د پټولو لپاره د طالبانو یو سازمان شوی او عام سیاست دی چې په ټول هیواد کې بې له ځنډه پلی کیږي. دا هغه مساله ده چې له یو پلوه عدالت ته له لاسرسي څخه د قربانیانو او د هغوی د کورنیو د محرومېدو سبب شوې او له بل پلوه یې د بشر حقونو د نقض د پېښو د بشپړ او بې پرې مستندولو امکان خورا محدود کړی دی.

حاکمو مقاماتو په پرله پسې ډول تر خپل امر لاندې ټولو ادارو ته امر کړی چې رسنیو او خلکو ته، د واکمنو مراجعو له مخکې تر مخکې همغږۍ پرته هیڅ ډول معلومات ور نکړي. هغوی په ځانګړي ډول د هیواد په جنوب غرب حوزه کې حتا د ځیرکو او کامره لرونکو تلفونونو کارول تر خپل امر لاندې کارکوونکو لپاره په کلکه منعه کړي دي. همدا راز، د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو په هدفي ډول د مخکني حکومت پاتې شوي کارمندان چې د د دولتي ادارو په بېلابېلو برخو کې یې کار کاوه، له خپلو دندو ګوښه کړې دي. د دې ګوښه کولو اصلي لامل پر دې کسانو د طالبانو د باور نشتوالی او په دولتي بنسټونو کې د اطلاعاتو د بهیر کنټرولول دي.

همدا راز، د یو رسمي مکتوب د نسخې پر بنسټ چې د رواداري په واک کې ورکړل شوې ده، طالبانو خپلو کارمندانو ته په ښکاره اعلان کړی چې له هغو رسنیو سره چې په تبعید کې فعالیت کوي له هر ډول همکارۍ څخه ډډه وکړي. په دې برخه کې په پروان او ننګرهار ولایتونو کې د طالبانو د اطلاعات و فرهنګ ریاستونو رسنیو او سیمه ییزو خبریالانو ته خبرداری ورکړی چې په تبعید کې فعالیت کوونکو رسنیو سره د هر ډول همکارۍ په صورت کې به د استخباراتو اداري له خوا ونیول شي او بندیان به شي. مدني او د بشر حقونو فعالان هم د طالبانو د خوښې خلاف له هر ډول څرګندونو په کلکه منعه شوي دي. سره له دې، رواداري په تېرو شپږو میاشتو کې داسې موارد مستند کړي دي چې ښیي طالبانو د بشر حقونو مدافعین، خبریالان او د رسنیو کارمندان، چې د دې امر سرغړونه یې کړې، «بهرنیانو ته د جاسوسی» په تور نیولي او شکنجه کړي دي.

سیمه ییزې رسنی هم اړیستل شوې دي چې یواځې هغه اطلاعات خپاره کړي چې طالبان یې غواړي، او د هر ډول خبر یا راپور خپرولو څخه ډډه وکړي چې مخکې له مخکې د اطلاعات او کلتور اداري له خوا تایید شوي نه وي. دا چاره په پراخه توګه د ځان سانسورۍ او د بشر حقونو د نقض د پېښو د یوې برخې د پټېدو لامل شوې، چې هره ورځ په ټول هیواد کې پیښیږي.

همدا راز، طالبان له بندیانو په ځانګړي ډول له هغو کسانو چې د نیول کېدو پر مهال شکنجه شوي دي، په کتبي ډول تعهد اخلي چې په زندانونو کې د خپلو تجربو او شواهدو په اړه له هیڅ بنسټ سره خبرې ونکړي، کنه نو بیا به ونیول شي او شکنجه به شي. د بشر حقونو او څارونکي سازمانونه هم زندانونو او د آزادۍ د سلب ځایونو ته د لاسرسي اجازه نه لري، او هم د دې مرکزونو مسئولین له رسنیو، بشري حقونو بنسټونو او نورو خلکو ته د معلوماتو له ورکولو په کلکه منعه شوي دي.

د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو په اړه هم طالبان په سخت حساسیت سره د اطلاعاتو د افشا کېدو مخنیوی کوي. دوی د قربانیانو کورنۍ او خپلوان مخامخ ګواښلي دي چې په دې برخه کې له معلوماتو ورکولو ډډه وکړي. د تلاښي

په پوستو کې د کمپیوټر او ټلفون کتل بل هغه اقدام دی چې طالبان یې د بشر حقونو د نقض اړوند اطلاعاتو د پټولو لپاره پرله پسې ترسره کوي.

له یادو محدودیتونو سره هممهاله، د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» هم د هیوادوالو په منځ کې د لا نورې وېرې او بې باورۍ لامل شوی، او په پایله کې د بشر حقونو د نقض اړوند د اطلاعاتو او شواهدو د پام وړ برخې د پټېدو لامل شوی. پر همدې دلیل هغه څه چې په دې راپور کې وړاندې کیږي، ممکنه ده چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د نقض هغه پېښې وي، چې رواداري بنسټ د خپلو امکاناتو، د لاسرسي د کچې او شته ظرفیتونو په تناسب توانېدلی مستندې یې کړي.

## لومړۍ برخه

# د مـدني او سيـــاسي حقونـو نقض



Photo (C) Adobe Stock

مدني او سياسي حقونه د وګړو تر ټولو بنسټيز بشري حقونه ګڼل کيږي، چې د بشر حقونو په بين المللي اسنادو، لکه د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق[٢]، د شکنجې د مخنيوي بين المللي کنوانسيون[٣]، او د بشر حقونو نړيوالې اعلاميې[٤] کې په رسميت پېژندل شوي دي. د يادو اسنادو پر بنسټ، غړي دولتونه دنده لري چې د دې حقونو د ملاتړ تر څنګ، هيوادوالو ته له دې حقونو څخه د برخه منبدو بشپړ شرايط برابر کړي[٥]. سره له دې، په افغانستان کې د مدني او سياسي حقونو د ارزونې وضعيت د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ښيي چې طالبانو د محدوديت په رامنځته کولو او د واک په ناسمې کارونې سره دغه حقونه نقض کړي، او په خپلسري او غيرقانوني ډول يې خلک نيولي، شکنجه کړي او د هيوادوالو د ژوند حق يې نقض کړی دی.

## د ژوند د حق نقض

د ژوند حق د خلکو نه ځنډيدونکي حق ګڼل کيږي چې دولتونه يې تر هيڅ ډول شرايطو لاندې، حتا د جګړې او وسله والو شخړو پر مهال يا نورو عمومي اضطراري وضعيتونو له امله نشي ځنډولای. د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، د ژوند حق د نه تعليقيدونکو حقونو د مصداق په توګه په رسميت پېژندلی دی.[٦]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې کم تر کمه ۳۵۴ تنه د هدفي انفجاري او ځانمرګو بريدونو، د تېرو جګړو پاتې شويو ناچاودېدلو توکو او يا په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپان شوي دي.[٧] په دې کې ۲۰۲ تنه وژل شوي او ۱۵۲ تنه ټپيان دي. په وژل شويو کې ۱۶۰ نارينه، ۱۵ ښځې او ۲۷ ماشومان دي. همدا راز، په ټپيانو کې ۱۲۳ نارينه، ۷ ښځې او ۲۲ ماشومان دي. د مخکني حکومت کارکوونکي او د هغوی د کورنيو غړي، خبريالان او مدني فعالان، لاريون کوونکي، ښځې، ماشومان، قومي مشران او د طالبانو له مخالفو ډلو سره په اړيکو تورن کسان په دې قربانيانو کې شامل دي.

رواداري د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ټول ۳۶۷ د ژوند د حق د نقض موارد ثبت کړي دي.[٨] د شمېرو پرتلنه ښيي چې د ژوند د حق د نقض کچه ۳.۵ فيصده کمه شوې ده. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ د همدې مودې په پرتله، چې ۵۱۶ پېښې وې، ۳۱.۳ فيصده کموالی ښيي.

لکه څنګه چې يادونه وشوه، اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې زياتېدونکو محدوديتونو ته په پام سره، د ژوند د حق د نقض د مواردو او په ځانګړي ډول له محاکمې پرته د وژنو مستندول د پام وړ ننګونو سره مخامخ ؤ. د همدې له مخې د ثبت شويو شمېرو کموالی خامخا د ژوند د حق د نقض د کموالی معنا نه لري.

2 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، د مدنی او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، (۱۹۶۶ ډسامبر ۱۶)، ۶، ۹، ۱۰ او ۲۱ مواد.

3 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د شکنجې او نورو بې رحمانه، غير انساني يا سپکوونکو چلندون او سزاګانو د مخنيوي بين المللي کنوانسيون، (۱۰ ډسامبر ۱۹۸۴)، لومړۍ ماده.

4 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، (۱۰ ډسامبر ۱۹۸۴) ۳، ۵، ۹، او ۲۰ مواد.

5 . د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، ۲مه ماده.

6 هماغه سرچينه، ۶مه ماده.

7 . د ژوند د حق د نقض اړوندې قضې د هرات، نيمروز، بادغيس، دايکندي، غور، فراه، خوست، پکتيا، پکتيکا، کابل، پروان، ميدان وردګ، کاپيسا، سرپل، سمنګان، غزني، بدخشان، کندز، تخار، بغلان، ننګرهار، کنړ، کندهار، ارزګان، زابل، هلمند، باميان، لوګر، بلخ او جوزجان ولايتونو اړوند دي.

8 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د بشر حقونو وضعيت، ۶ مخ، https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/02/RW_MidYear2024_HRReport_Dari.pdf

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د ژوند د حق د نقض پرتلنه





## د هدفي انفجاري او ځانمرګو بریدونو له امله اوښتي مرګ ژوبله

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمايي کې لږ تر لږه ۴۶ تنه په کندز، بلخ، پکتیکا، کنړ، ننګرهار او نورستان ولایتونو کې د هدفي، ځانمرګو او انفجاري بریدونو په پایله کې وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې کې ۱۱ تنه وژل شوي او ۳۵ تنه نور ټپیان شوي دي. په وژل شوو کې ۱۰ تنه نارینه، یوه ښځه او ۳۵ ټپیان ټول نارینه ښودل شوي دي.

رواداري د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۶۹ ملکي وګړو د ژوند د حق د نقض موارد چې د هدفي، ځانمرګو او انفجاري[9] بریدونو له امله رامنځته شوي، ثبت کړي دي. د دواړو شمېرو پرتلنه ښیي چې د هدفي، ځانمرګو او انفجاري بریدونو له امله رامنځته شوي ملکي مرګ ژوبله د راپور په دې دوره کې ۳۳.۳ فیصده کمه شوې ده. همدا راز، دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د لومړۍ نیمايي په پرتله چې ۱۱۱ پېښې وې نیم په نیمه کمې شوې دي.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو پرتلنه




د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۱۵مه نېټه د بلخ ولایت د مزار شریف ښار د دویمې حوزې اړوند سیمه کې د سرکځنډي د پلور کراچۍ په ځای پر ځای شوې ماین د چاودنې له امله کم تر کمه ۲ تنه ملکي هیوادوال ووژل شول او ۶ تنه نور ټپیان شول. د دې چاودنې مسئولیت تر اوسه چا پرغاړه نه دی اخستی.

9 . هماغه سرچینه، ۷ مخ.


Photo (C) Alamy - Imago


همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د اپریل په ۱۴مه نېټه د بلخ ولایت د مزار شریف ښار د «سه دکان» په سیمه کې د شیعه ګانو یو جومات ته نږدې د یوې بلې چاودنې په پایله کې د یوې ښځې په ګډون کم تر کمه ۳ تنه ملکي وګړي ووژل شول او ۶ ملکي وګړي ټپیان شول. د دې چاودنې مسئولیت هم چا پر غاړه نه دی اخستی.

د ۲۰۲۵ کال د فبروري پر لومړۍ نېټه د پکتیکا ولایت په نعمت آباد ولسوالۍ کې د پاکستان د هوايي ځواکونو د بمبار له امله د دوو واکسیناتورانو په ګډون ۳ تنه ملکي وګړي ووژل شول. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۵مه نېټه، دري سیمه ییز خبریالان په ننګرهار ولایت کې د طالبانو او پاکستاني ځواکونو تر منځ پر کرښه د جګړې پر مهال د هاوان د یوې مرمۍ د لګېدو له امله ټپیان شول.

## د ماینونو او له وسله والو شخړو څخه د پاتې چاودیدونکو توکو د چاودنو له امله پېښه شوې مرګ ژوبله

د ۲۰۲۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په بهیر کې کم تر کمه ۵۷ تنه د ځای پر ځای شویو ماینونو، سرګلولو او له تېرو جګړو څخه پاتې نورو چاودېدونکو توکو د چاودنو له امله وژل شوي او ټپیان شوي دي. په دې کې ۲۶ تنه چې پکښې ۹ نارینه او ۱۷ ماشومان وژل شوي او ۳۱ تنه نور چې ۲۰ پکې ماشومان، ۱۰ نارینه یوه ښځه ده ټپیان شوي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله چې ۱۰۵ پېښې وې[10] ۴۵.۷ فیصده کمې شوې دي. همدا راز دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د لومړۍ نیمايي په پرتله چې ۶۳ پېښې وې ۹.۵ سلنه کموالی ښیي. ثبتې شوې پېښې ډېرې په کلیو او د هیواد په ځینو نورو سیمو کې پېښې شوې دي چې پخوا د وسله والو شخړو سیمې وې.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د شمېرو پرتله




د روان کال د اپرېل پر ۱۳مه نېټه، له جګړې څخه د پاتې شویو مهماتو د چاودنې له امله یو ماشوم هلک او یوه ماشومه نجلۍ چې خور او ورور وُ، د غزني ولایت په اندړو ولسوالۍ کې ووژل شول. په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۸مه نېټه د میدان وردګ ولایت په چک ولسوالۍ کې د ماین د چاودنې له امله یو ماشوم ومړ او ۴ نور ټپیان شول.

10 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو د وضعیت راپور، ۸ مخ.

سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د مي پر ۵مه نېټه دوه تنه د هرات ولایت د زنده جان ولسوالۍ اوسیدونکي، کله چې خپل کور ته روان ؤ، له مخکنیو جګړو څخه د پاتې یو ماین د چاودنې له امله ټپي شول.

**همدا راز د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۸مه د بدخشان ولایت په زیباک ولسوالۍ کې د یو بل ماین د چاودنې له امله درې ماشومان ووژل شول او درې نور ماشومان ټپیان شول. د قربانیانو یو خپلوان ویلي چې دې ماشومانو د خاشاکو د ټولولو پر مهال ماین پیدا کړی و او لوبې یې پرې کولې چې دغه غمېزه پېښه شوه.**

سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۳۰مه نېټه دوه ماشومان د غور ولایت د فیروز کوه ښار په څنډو کې د هاوان د یوې سرګلولې د چاودنې له امله ووژل شول او یو بل تن ټپي شو.

که څه هم د هیواد په ځینو برخو کې لکه جنوب لویدیځه حوزه کې د وسله والو شخړو د کمېدو له امله د ماینونو د چاودنو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه هم کمه شوې ده، خو پر ماینونو د هیواد د ډېرو برخو ککړتیا د ملکي خلکو په ځانګړې ډول د ماشومانو د امنیت او ژوند لپاره جدي ګواښ ګڼل کیږي. هلوټرسټ (The HALOTRUST) بنسټ په یو نوي راپور کې ویلي چې ۶.۴ میلیونه تنه په افغانستان کې د ناوچېدلو مهماتو په خطر کې دي، او ماشومان د دې چاودنو ۸۰ فیصده قربانیان دي.[11]

## هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د دې راپور د معلوماتو پر بنسټ د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۲۵۱ تنه چې ۲۱۹ نارینه، ۲۰ ښځې او ۱۲ ماشومان دي په هدفي، مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو وسله والو له خوا وژل شوي او ټپيان شوي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله چې ۱۹۳ پېښې وې[12]، ۳۰ فیصده زیاتوالی ښیي. همدا راز، دغه شمېرې د ۲۰۲۳ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله چې ۳۴۲ ثبت شوې پېښې وې، ۲۶.۶  فیصده کموالی ښیي.


د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، په نښه شوي کسان ډېری د مخکني حکومت کارکوونکي، د طالبانو د مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ تورن کسان، لاریون کوونکي، قومي مشران او سیمه ییز مخور کسان دي. یو شمېر هغه کسان چې مخکې یې طالبانو سره شخصي بدۍ درلودې هم په قربانیانو کې شامل دي.

د دې کسانو د وژلو لپاره کارول شوې طریقې د ټوپک په ډز وژل، له سرې وسلې څخه کار اخستل، سر پرې کول او سوځول دي. همدا راز، یو شمېر دا کسان له وژل کېدو مخکې تښتول شوي، بندیان شوي، ګواښل شوي او یا ترې پوښتنې ګروېرنې شوي دي، او ځینې یې له خوشې کېدو وروسته په مشکوک ډول وژل شوي دي.

11 . هلوټرسټ بنسټ، «له هرو پينځو افغانانو یو تن د ځمکنیو مایونو او چاودیدونکو توکو له خطر سره مخ دی»، ۱۰ جون ۲۰۲۵، https://www.halotrust.org/news/one-in-five-afghans-at-/risk-of-landmines-and-explosives

12 . رواداري، «د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت»، ۸ مخ،

### د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړیو شپړو میاشتو د شمېرو پرتلنه




## د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د مستندولو محدودیتونه

هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې په افغانستان کې د ژوند د حق د نقض تر ټولو پېچلې پېښې ګڼل کیږي. ځکه طالبان له یو پلوه دا ډول وژنې نامعلومو افرادو او ډلو ته منسوبوي او له بل پلوه په هدفي ډول د دې پېښو د پېټولو هڅه کوي. هغوی د ګواښ او فشار په واردولو د قربانیانو کورنۍ او نورې سیمه ییزې سرچینې په دې برخه کې د هر ډول معلوماتو ورکولو څخه منعه کوي. سربېره پر دې، دا مهال د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو بشپړ او دقیق مستندول، په ځانګړي ډول په لویو ښارونو او د ولایتونو په مرکزونو کې ډېر سخت او په ځینو مواردو کې غیر ممکن دي. ځکه په ټولنه کې د وېرې او ډار د فضا رامنځته کولو له امله د قربانیانو کورنۍ د اطلاعاتو د وړاندې کولو له احتمالي پایلو او د دې پېښو په مستندولو کې له همکارۍ څخه وېرېږي.

له بل پلوه، طالبانو رسنۍ او خبریالان هم د دا ډول پېښو له خبري پوښښ څخه منعه کړي دي او په ځینو مواردو کې یې حتا هغوی په سزا او بندي کولو ګواښلي دي. روغتونونه او روغتیایي مراکز هم اجازه نه لري چې د قربانیانو د هویت اړوند معلومات خپاره کړي او یا یې د رسنیو او خبریالانو په واک کې ورکړي[۱۳]. په سویل لویدیځه حوزه کې ډېر شمېر دغه وژنې حتا روغتونونه هم نه ثبتوي، او په ځینو مواردو کې چې د طالبانو د ځواکونو د لاس لرلو ښکاره نښې او شواهد پکې وي، د قربانیانو مړي ژر تر ژره نظامي روغتونونو ته لېږدول کیږي چې د اړوندو معلوماتو د خپرولو او د دې ډول پېښو د څرنګوالي د پېټولو مخنیوی وشي.

سربېره پر دې، په ځینو مواردو کې د هیواد په جنوب لویدیځه حوزه کې، طالبانو حتا د قربانیانو کورنۍ تر فشار لاندې راوستي دي چې تحریف شوې او د واقعیت خلاف څرګندونې وکړي. د بېلګې په توګه هغوی ته امر شوی چې دا وژنې شخصي خصومتونه یا د یو جنایي پېښې په توګه بیان کړي لکه د وسله والو غلو برید یا دا چې د قرباني د دوستانو کار یې وګڼي. د همدې محدودیتونو له امله رواداري بنسټ په تېرو شپږو میاشتو کې توانېدلی د یو شمېر قربانیانو د هویت اړوند کافي شواهد ترلاسه کړي او هغه مستند کړي.

بل د یادونې وړ ټکی، په دې ډول وژنو کې کارول شوې طریقې دي. په مخکنیو کلونو کې هغه کسان چې په نښه کېدل، په ځینو مواردو کې یواځې تېپان کېدل یا له مرګه بچ کېدل؛ خو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دا وژنې لا په سازمان شوې بڼه او لا ډېر له تاوتریخوالي په ډکه طریقه ترسره شوې دي. د بېلګې په توګه د کندهار په حوزه کې مرتکبانو

13 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو د بشر حقونو وضعیت، ۴ مخ.

لومړی قربانیان تښتولي او وروسته یې وژلي دي او مړي یې په لرې ځای کې غورځولي دي. په ځینو مواردو کې حتا د قربانیانو سرونه پرې شوي او یا په اور سوځول شوي دی.

سره له دې، دې ته په پام سره چې طالبانو په تېرو څلورو کالو کې په پراخه توګه د کورونو تلاشۍ کړې دي او وسلې یې ټولې کړې دي او د وسلو محدودولو لپاره یې اقدام کړی، د دې پېښو د عاملانو د هویت په اړه لا هم جدي ابهام شته او دا چې کوم کسان یې مسئول دي، قاطع او روښانه ځواب نشته. خو شته موندنې داسې روایت کوي چې هدفي، مرموزې او له محاکمې پرته وژنې، په ځانګړي ډول د مخکني حکومت د کارمندانو اړوند، سیستماتیک او پراخ څرنګوالی لري، چې په غچ اخستونکو انګېزو ترسره کېږي؛ ځکه ترلاسه شوي شواهد، په دې پېښو کې تکرار او د اجرا په طریقې او د قربانیانو په انتخاب کې د پام وړ ورته والی څرګندوي.

په یو شمېر دې قضیو کې، لکه د مخکني حکومت د کارکوونکو او هغو کسانو اړوند پېښو کې چې د مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ تورن دي، د طالبانو د لاس درلودلو کره شواهد شته. طالبانو د بېلابېلو طریقو او تاکتیکونو په کارولو د غچ اخستنې په انګېزو دغه کسان وژلي دي. د بېلګې په توګه هغوی د مخکني حکومت کارکوونکي یا د خپلو مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ تورن کسان وژني او وروسته پر قربانیانو لګېدلی تور د غلا، بغاوت یا داعش سره د همکارۍ په توګه اعلانوي. په دې برخه کې په دې تړاو د طالبانو یوې سرچینې رواداري ته ویلي چې د دې ډلې ځواکونه هغه پوځي مخالفان، منتقدان او کسان چې دوی یې د «بغاوتګرو» په نوم یادوي، له نیولو وروسته وژني

## د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د مرتکبانو د تعقیب لپاره د طالبانو اقدامات

د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې د درج شویو مفادو او مقرراتو پر بنسټ، لکه د مدني او سیاسي حقونو د بین المللي میثاق د ۲مې او ۶مې مادې له مخې دولتونه دنده لري چې نه یواځې د خلکو د ژوند د حق د نقض او خپلسرو وژنو مخه ونیسي بلکې دا پېښې په اغېزناکه، بې پرې او خپلواکه توګه وڅېړي او عاملان یې مسئول وګرځوي[14]. د داسې مسئولیت نه ترسره کول له مجازاتو څخه د خوندیتوب د کلتور بنسټیز کېدو او د بشر حقونو د نقض د دوام لامل ګرځي.

سره له دې په تېرو څلورو کلونو کې طالبانو د هدفي، مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د عاملانو د محاکمه کولو اړوند شفاهي اقدام نه دی کړی او خلکو ته یې د خپلو اجراآتو په اړه اطلاعات نه دي ورکړي، په همدې دلیل دې دوسیو ته هیڅ قانوني رسیدګي نه ده شوې؛ دا هغه چاره ده چې له یو پلوه د غچ اخستنې او روانو تاوتریخوالو د څرخ د دوام لامل شوې او له بل پلوه یې عدالت ته د لاسرسي لپاره د قربانیانو د کورنیو حق نقض کړی دی.

همدا راز، له ۲۵۱ هدفي، مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو څخه چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ترسره شوې دي، طالبانو یواځې دوه تنه په هلمند او کندهار ولایتونو کې نیولي دي چې د دې کسانو د محاکمې او سزا د څرنګوالي په هکله معلومات نشته. د پاتې پېښو اړوند طالبانو د هدفي وژنو د عاملینو د قانوني رسېدنې او عدلي او قضایي تعقیب لپاره هیڅ اقدام نه دی کړی. دې قضیو ته نه رسېدل سربېره پر دې چې خپلو حقوقي مسئولیتونو ترسره کولو ته د طالبانو د التزام نشتوالی ښیي، همدا راز له مجازاتو څخه د معافیت او د وېرې او ډار د فضا د دوام لامل شوی دی.

14 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۲ او ۶ مواد.


طالبان لکه څنګه چې وضاحت ورکړل شو په سخت حساسیت سره د دې ډول پېښو اړوند د معلوماتو خپرولو مخنیوی کوي. محکمې او نور اړوند مراجع یې نه یواځې دا ډول قضیو ته د رسېدنې اړوند د خپلو اجراآتو راپور خلکو ته نه ورکوي، بلکې په اړه یې د هیڅ ډول څېړنې اجازه هم نه ورکوي. له کندهار حوزې څخه ترلاسه شوي اطلاعات ښیي چې طالبان هغه کسان نیسي چې د دا ډول وژنو اړوند څېړنه وکړي یا معلومات راټول کړي.

## د مخکني حکومت د کارکوونکو سازمان شوې وژنې

د ۲۰۲۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو په بهیر کې کم تر کمه ۲۰ تنه د مخکني حکومت کارکوونکي په هدفي، مرموز او له محاکمې پرته وژل شوي او ټپیان شوي دي.

د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مخکني حکومت ۵۱ تنه کارکوونکي د هدفي وژنو په پایله کې وژل شوي او ټپیان شوي دي. د دواړو شمېرو پرتلنه ښیي چې د راپور په دې دوره کې دغه پېښې د ۶۰ فیصدو شاوخوا کمې شوې دي. همدا راز د ۲۰۲۵ کال د لومړۍ نیمایي پېښې د ۲۰۲۳ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله چې ۵۵ پېښې وې، ۶۳.۶ فیصده کموالی ښیي.

### د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو پرتلنه




که څه هم، د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمایي کې د مخکني حکومت د کارکوونکو د وژنو اړوند شمېرو پرتلنه د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو له همدې مهال سره کموالی ښیي خو دا کموالی د وضعیت د ښه والي ښکارندویي نه کوي، بلکې دغه کموالی د دې ډول پیښو اړوند اطلاعاتو ته په لاسرسي او مستندولو کې د سختو محدودیتونو له امله دی.

د دې راپور د موندنو له مخې، طالبانو په ځانګړي ډول د دوی د استخباراتو اداره د بېلابېلو لارو او تاکتیکونو په کارولو، د مخکني حکومت کارکوونکي د غچ اخستلو په موخه په نښه کوي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال په فبرورۍ میاشت کې د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې یو پخوانی نظامی له لفظي شخړې وروسته د طالبانو له خوا د ټوپک په ډزو ووژل شو. د دې پخواني نظامي خپلوانو رواداري ته ویلي چې هغه دوکانداري کوله او طالبانو سره تر لفظي شخړې وروسته ووژل شو. خو طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو د دې قضیې په اړه ویلي چې یو غل له هغوی سره په نښته کې وژل شوی دی.

همدا راز په یوه بله پېښه کې، د روان کال د جون پر ۶مه نېټه له غزني ولایت څخه د مخکني ملي امنیت یو کارمند په کابل ښار کې په مشکوک ډول ووژل شو. د دې مخکني نظامي خپلوانو ویلي چې هغه د لوی اختر پر لومړۍ ترۍ تم شو او درې ورځې وروسته یې مړی د کابل د یو روغتون له یخچال څخه وموندل شو. طالبانو د مرګ علت ځانوژنه اعلان کړه؛ هغه ادعا چې د قرباني کورنۍ یې ردوي. په همدې ترتیب، د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۲۴مه، د طالبانو ځواکونو یو مخکنی نظامي د کابل ښار د ځلورمي حوزې په اړونده سیمه کې ونیو. یوه ورځ وروسته یې کورنۍ مړی د کابل په شکردرې ولسوالۍ کې وموند. د قرباني د خپلوانو په وینا، طالبانو له نیولو مخکې له ګاونډیانو څخه د هغه ادرس پوښتلی و او وروسته یې هغه ونیو. د دې سرچینې د څرګندونو پر بنسټ، قرباني تل د خپل امنیت اړوند اندېښمن و، ځکه مخکې د طالبانو له خوا ګواښل شوی و. طالبانو تر اوسه د دې پېښې په اړه هیڅ وضاحت یا اطلاعات نه دي وړاندې کړي.



Photo (C) Alamy - SOPA Images Limited

هممهاله، د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۲۶مه په غور ولایت کې یو مخکنی نظامي قومندان له نیول کېدو وروسته د طالبانو د استخباراتو اداري له خوا ووژل شو. په سبا یې طالبانو مړی کورنۍ ته وسپاره خو تر اوسه یې د دې پېښې په اړه هیڅ سپیناوی نه دی ورکړی. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د می پر ۲۴مه نېټه د همدې ولایت په تیوره ولسوالۍ کې د سیمه ییزو پولیسو یو غړی په خپل کور کې ځړول شوی. سیمه ییزې سرچینو او د دې مخکني نظامي د کورنۍ غړو ویلي چې طالبانو هغه په خپل کور کې اعدام کړی دی. له بل پلوه، د نېټه د بادغیس ولایت د امنیې قومندانۍ یو پخوانی افسر چې د طالبانو د استخباراتو اداري له خوا نیول شوی و، له څو ساعتو وروسته په ډزو ووژل شو. طالبانو وروسته اعلان وکړ چې د دې پخواني نظامي په جیب کې یې لاسي بم موندلی و.

په یادو پیښو سربېره، د راپور په دې دوره کې د مخکني حکومت د کارکوونکو د وژنو داسې پېښې هم شته چې د ناپېژاندو وسله والو کسانو له خوا وژل شوي او د دې کسانو د هویت او د وژنو د انګېزې په اړه معلومات نشته. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۵ کال په جنوري میاشت کې د مخکني ملي امنیت د عمومي ریاست یو کارمند د هلمند ولایت په صوفیان سیمه کې د نامعلومو کسانو له خوا ووژل شو. هغه دوکانداري کوله او د هغه د خپلوانو د څرګندونو پر بنسټ له هیچا سره یې دښمني نه درلوده. د دې وژنې د انګېزې او د قاتل د هویت په اړه معلومات نشته. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۴مه نامعلومو وسله والو کسانو د بدخشان ولایت په فیض آباد ولسوالۍ کې یو مخکنی نظامي په ډزو وواژه. د دې پېښې د عاملینو په اړه هم اطلاعات نشته. د فاریاب ولایت په خواجه سبز پوش ولسوالۍ کې هم نا معلومو وسله والو کسانو د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲۷مه او د می پر ۸مه نېټه درې مخکني نظامیان په ډزو ووژل.

لکه څنګه چې د دې راپور په مخکنیو برخو کې وویل شول، طالبانو د مخکني حکومت د کارکوونکو له محاکمې پرته د وژنو د عاملینو د عدلي تعقیب او مجازات کولو لپاره نه یواځې هیڅ ډول اغېزناک اقدام نه دی کړی؛ بلکې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې وروسته چې دوی واک ته بیا راګرځېدلي، د مخکني حکومت کارکوونکي په ټول هیواد کې تر مرګونو او غچ اخیستونکو بریدونو لاندې راغلي دي.


په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوي هم په خپلو راپورونو کې څرګنده کړې، چې د ۲۰۲۵ کال د جنوري له لومړۍ نېټې د جون تر ۳۰مې نېټې یې د مخکني امنیتي او دفاعي ځواکونو د وژنو ۱۳ پېښې مستندې کړې دي.[15]

15 . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستیال پلاوی، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت: د ۲۰۲۵ کال له جنوري څخه تر مارچ تازه راپور، ۴ مخ. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/dari_-_unama_hrs_update_on_human_rights-.pdf او په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت: له اپرېل څخه تر جون تازه راپور، ۵ مخ. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/dari_-_unama_hrs_update_on_human_rights_in_afghanistan_april-june_2025_final_0.pdf

## د مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ د تورنو کسانو له محاکمې پرته وژنې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو کم تر کمه ۱۸ تنه ملکي وګړي له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور وژلي دي. دا شمېرې د ۱۴ پېښو په توپیر سره چې د ۲۰۲۴ کال په همدې موده کې ثبت شوې وې دوه چنده زیاتوالی ښیي. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمایي کې ثبت شوې پېښې د ۲۰۲۳ کال د همدې مودې په پرتله دوه چنده زیاتوالی ښیي.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د شمېرو پرتله




ترلاسه شوي شواهد ښیي چې د طالبانو د استخباراتو اداري د خپلو مخالفو ډلو په غړیتوب او همکارۍ تورن کسان د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مخکني حکومت د کارکوونکو وژنو ته په ورته طریقو او تاکتیکونو په نښه کړې دي. د بېلګې په توګه، هغوی

**د هرات ولایت د انجیل ولسوالۍ یو اوسېدونکی له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور د ۲۰۲۵ کال په مارچ کې ونیو او درې ورځې وروسته یې د هغه مړی کورنۍ ته وسپاره. هغه د مخکني حکومت له سقوط وروسته ایران ته تللی و خپل کلي ته له راستنېدو لس ورځې وروسته د طالبانو له خوا ونیول شو او وروسته ووژل شو. همدا راز، طالبانو د هرات ولایت د کشک رباط سنګي ولسوالۍ یو تن مخور د دوی له مخالفینو سره د همکارۍ په تور ونیو. د سیمه ییزو سرچینو د معلوماتو پر بنسټ، دا شخص له نیول کېدو درې ساعته وروسته ووژل شو.**

په یوه بله پېښه کې د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲۵مه نېټه طالبانو د هرات ولایت په انجیل ولسوالۍ کې یو تن د غلا په تور په ډزو وواژه. ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د دې شخص اصلي تور د طالبانو په مخالفو جبهو کې غړیتوب و، خو د طالبانو سیمه ییزو مسئولینو د دې وژنې د انګېزو د پټولو لپاره پر قرباني لګېدلی تور غلا اعلان کړی دی.

د ۲۰۲۵ کال د فبروري پر ۲۴مه د طالبانو کسانو د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ په اړوندو سیمو کې یو ځوان له آزادۍ جبهې سره د همکارۍ په تور ونیو او یوه اونۍ وروسته یې په ډزو وواژه. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د دې ځوان یو خپلوان چې په زندان کې و، ورسره اړیکه نیسي او ورته وایي چې له زندانه خوشې شوی دی او دده لیدل غواړي. کله


چې هغه په ورکړل شوې پته ورځي، طالبان يې نيسي او بګرام زندان ته يې ليږدوي. طالبانو د دې کس د نيولو دليل د وسلې درلودل ښودلي ؤ، خو سيمه ييزو سرچينو ويلي چې هغه له ملي مقاومت جبهې او آزادۍ جبهې سره د همکارۍ په تور وژل شوی دی.

## د نورو ملکي هيوادوالو مرموزې او له محاکمې پرته وژنې

د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې کم تر کمه ۱۰۰ تنه ملکي هيوادوال په مرموز ډول او له محاکمې پرته د طالبانو او نامعلومو وسله والو له خوا وژل شوي او ټپيان شوي دي. په دې کې د ۳۹ په شمېر کسان چې ۳۲ نارينه، ۶ ښځې او يو ماشوم دی وژل شوي، او ۶۱ تنه نور چې ۵۸ نارينه، ۲ ښځې او يو ماشوم دی ټپيان شوي دي. معترضان، د مخکني حکومت ملاتړي، قومي مشران، ديني عالمان او سيمه ييز مخور کسان دي چې د راپور په دې دوره کې وژل شوي او ټپيان شوي دي. په دې کې ۳۹  تنه ملکي وګړي په سوله ييزو راټولېدنو او لاريونونو کې وژل شوي او ټپيان شوي دي چې په اړونده برخه کې به پرې رڼا واچول شي.

د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۱۳۱ په شمېر ملکي وګړي په دې ډول پېښو کې وژل شوي او ټپيان شوي ؤ. پر همدې بنسټ، د دواړو شمېرو پرتلنه ښيي چې د راپور په دې دوره کې د ټولو ملکي وګړو شمېر چې له محاکمې پرته او په مرموز ډول وژل شوي ۲۳ فيصده کموالی پکې راغلی. همداراز، دا شمېرې له ۲۰۲۳ کال کې په همدې موده کې د ثبت شويو شمېرو په پرتله چې ۲۷۸ پېښې وې، له دوه چنده ډېر کموالی ښيي.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړيو شپږو مياشتو د شمېرو پرتلنه




د نورو ملکي هيوادوالو د مشکوکو او له محاکمې پرته وژنو اړوند مهم ټکی دا دی چې د پام وړ قربانيان لکه څنګه چې وويل شول، سيمه ييز مخور او قومي او مذهبي مشران ؤ. د دې پېښو د عاملانو په اړه کره معلوماتو ته د لاسرسي نشتوالی بله د پام وړ مساله ده، چې جدي پوښتنې او اندېښنې يې راپارولې دي. څکه طالبان نه د دې کسانو د پېژندلو او مجازات کولو لپاره اقدام کوي او نه د هغوی د هويت په اړه د قربانيانو کورنيو او خلکو ته راپور ورکوي.

سربېره پر دې، په هغو مواردو کې چې د طالبانو خپل ځواکونه په دا ډول وژنو کې لاس ولري هم سترګې يې پرې پټې کړې دي. پر همدې بنسټ، د دې پېښو د عاملانو د قضايي تعقيب نشتوالی او عدالت ته له لاسرسي څخه د قربانيانو د کورنيو محرومېدل له جدي اندېښنو څخه دي، چې په هيواد کې د ژوند د حق د نقض د جدي بڼو په توګه، د مرموزو او له محاکمې پرته وژنو د دوام لامل ګرځيدلي.

د ۲۰۲۵ کال په فبروري میاشت کې یو قومي مشر په زابل ولایت کې په مشکوک ډول ووژل شو. طالبانو د دې پېښې د عاملانو د هویت په اړه څه نه دي ویلي او نه یې د هغوی د نیولو لپاره کوم اقدام کړی دی. همدا راز، په اپرېل میاشت کې د کندهار ولایت په خاکریز ولسوالۍ کې د یو جومات ملا امام د ځینو کسانو له خوا ترور شو چې هویت یې معلوم نه دی.

**همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په جنوري کې د بادغیس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د طالبانو قومندان دوه ښځې د دوی د خپلوانو د معلوماتو پر بنسټ د شخصي بدۍ له امله ووژلې. له بل پلوه، د ۲۰۲۵ کال په می او جون میاشتو کې طالبانو دوه تنه د سلفي مذهب عالمان د بدخشان ولایت په شهدا ولسوالۍ کې ووژل.**

د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۸مه نامعلومو وسله والو د فاریاب ولایت یو اوسېدونکی چې دوکانداري یې کوله د دې ولایت د المار ولسوالۍ په بازار کې وواژه او خپله وتښتېدل. د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۱۲مه نېټه د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ یو اوسېدونکی په مرموز ډول ووژل شو. د سیمې خلکو یې ټوټه ټوټه شوی جسد په کلي کې وموند او کورنۍ ته یې وسپاره.

## اجباري تري تم کول


اجباري تري تم کول، د دولت یا اشخاصو او یا ډلو له خوا د خلکو نیولو، توقیفولو، تښتولو یا له آزادۍ څخه هر ډول محرومولو ته وايي، چې د دولت په رضا، ملاتړ یا چوپتیا کې ترسره کیږي. د دې عمل اصلي ځانګړتیا د نیولو د دلایلو، برخلیک او د ساتل کېدو د ځای اړوند په قصدي ډول د خبر نه ورکول دي.[16] سره له دې، د اجباري تري تم کولو ترسره کېدل ټاکلی وخت نه لري، بلکې له تښتولو یا نیولو پیلیږي او تر هغه وخته دوام پیدا کوي چې د تري تم شوي کس برخلیک او د ساتل کېدو ځای و نه ښودل شي او نیول شوی کس قانوني ملاتړونه و نه لري.[17] د بین المللي جزایي محکمې اساسنامه د خلکو اجباري تري تم کول د بشر د حقونو تر ټولو سخت نقض او د بشریت ضد جنایت د مصداق په توګه په رسمیت پېژندلی.[18]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۲۷ تنه د هېواد په ۶ ولایتونو[19] کې، د طالبانو او نامعلومو وسله والو له خوا له نیول کېدو وروسته تري تم شوي دي. دا شمېره د ۲۰۲۴ کال په پرتله چې ۳۶ پېښې وې،[20] ۲۵ فیصده کموالی ښيي. همدا راز، د جبري تري تم کولو د شمېرو پرتلنه د ۲۰۲۳ کال د همدې مهال په پرتله چې ۱۱ پېښې وې له دوه چنده څخه ډېر زیاتوالی ښيي.

د جبري تري تم کولو قربانیان ډېری د مخکني حکومت کارکوونکي، د مخالفو ډلو په غړیتوب یا همکارۍ تورن کسان او هم قومي یا مذهبي مشران دي. دا خلک په غیرقانوني ډول نیول شوي او بیا تري تم شوي دي او په دې موده کې له خپلو ټولو بنسټیزو حقونو لکه مدافع وکیل ته لاسرسي، کورنۍ سره اړیکه او ټولو قانوني ملاتړونو څخه محروم ؤ. طالبانو په عمدي ډول د دې خلکو د ساتلو د ځای او برخلیک په اړه خبر نه دی ورکړی او په ځینو مواردو کې یې قربانیان له نیولو وروسته شکنجه کړي او وژلي دي، چې وروسته یې مړي پیدا شوي دي.

16 د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ناسته، له اجباري تري تم کولو څخه د ټولو خلکو د ملاتړ بین امللي کنوانسیون،(۲۰ ډسمبر، ۲۰۰۶)، پریکړه لیک، ۱۷۷/۶۱ ماده ۲.
17 د بشر حقونو شورا، د اجباري یا غیر ارادي تري تم کولو کاري ډله، د ۱۶مې ناستې راپور، A/HRC/16/48، جنوري ۲۰۱۱، عمومي تفسیر، لومړی بند.
18 د روم اساسنامه، بین المللي جزایي محکمه، (۱۷جولای ۱۹۷۷)، ۷ ،UNTS 90 2187مه ماده، (۱)، (i).
19 غزني، هرات، بدخشان، غور، کندهار او بلخ.
20 رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ۱۲ مخ.

**د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړیو شپږو میاشتو کې د جبري تري تم کولو د شمېرو پرتلنه**




همدا راز د دې راپور موندنې ښيي چې اجباري تري تم کول ډېری مهال د استخباراتو اداري له خوا د مخکني حکومت له کارکوونکو او د مخالفو ډلو په غړيتوب او همکارۍ له تورنو کسانو څخه د غچ اخستنې، او د هغوی د ځينې او فزيکي حذف د وسيلې په توګه ترسره شوي دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د مې پر ۳مه نېټه د طالبانو د استخباراتو ځواکونو د بدخشان ولايت په شهدا ولسوالۍ کې د سلفي مذهب يو عالم ونيو او تری تم يې کړ. له ۶ ورځو وروسته د دې کس مړی په داسې حال کې چې په ډزو ويشتل شوی و د جرم ولسوالۍ په سيند کې وموندل شو. سيمه ييزو سرچينو ويلي چې هغه له داعش ډلې سره د اړيکو په تور نيول شوی او تری تم شوی و. په يوې بلې پېښې کې په کندهار ولايت کې يو مخکنی نظامي چې يوه موده تری تم شوی و د ۲۰۲۵ کال د اپرېل په لومړۍ نېټه يې مړی وموندل شو چې سر يې پرې شوی و.

**همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۲۸مه د بدخشان ولايت د فيض آباد ښار يو اوسېدونکی د طالبانو له خوا ونيول شو او تری تم شو. له هغې وخته تر اوسه چې دوه مياشتې تيرېږي، د هغه د ساتلو د ځای او برخليک په اړه هيڅ ډول اطلاع نشته. د دې کس خپلوانو ويلي چې هغه له هيڅ يوې ډلې سره اړيکه نه درلوده او طالبان يې د نيول کېدو د لامل او د ساتنې د ځای په اړه معلومات نه ورکوي. په غور ولايت کې په يوه ورته پېښه کې طالبانو د روان کال په مې مياشت کې يو سړی په حزب التحرير کې د غړيتوب په تور ونيو او تری تم يې کړ. له پېښې دوه مياشتې وروسته لا هم د هغه د ساتنې د ځای او برخليک په اړه هيڅ اطلاع نشته. د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ، د استخباراتو ځواکونو مخکې هم دا کس نيولی و.**

د يادو شويو مواردو سربېره، د طالبانو نورو ټولو ځواکونو هم د راپور په دې دوره کې په خپلسري ډول خلک نيولي، تري تم کړي او شکنجه کړي دي. دا هغه وضعيت دی چې د طالبانو تر کنټرول لاندې ادارو کې د يو ډول ګډوډۍ او ناقانونه کړنو څرګندونه کوي. د بېلګې په توګه، په کندهار ولايت کې د يوې امنيتي حوزې يو طالب سرتيری د خپل يو ملګري په غوښتنه، يو بل کس چې حقوقي دعوه يې ورسره لرله، تښتولی او تری تم کړی يې دی. قرباني په دې موده کې په نامعلوم ځای کې بندي و او سخت شکنجه او رېږول شوی دی. داسې چې نشه يي مواد يې ورکړي، هغه يې په زنځير تړلی او په مرګ يې ګواښلی. دي کس له هغه ځا څخه چې دی يې تری تم کړی او شکنجه کړی و، د طالبانو په محکمه کې شکايت کړی دی.

د نامعلومو کسانو له خوا د مخکني حکومت د کارکوونکو د اجباري تري تم کولو نور موارد هم شته، لکه څنګه چې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۴مه د همدې ولایت په پسابند ولسوالۍ کې یو مخکنی نظامي له کوره ونیول شو او تری تم شو. د عاملینو د هویت، د قرباني د ساتل کېدو د ځای او برخلیک په اړه یې هيڅ معلومات نشته. د طالبانو سیمه ییزو مسئولینو د دې نامعلومو کسانو د پېژندلو، تعقیب او سزا ورکولو لپاره هيڅ اقدام نه دی ترسره کړی او یا یې د قربانیانو کورنیو ته د خپلو اجراآتو راپور نه دی ورکړی.

له بل پلوه، د جبري تري تم کولو د پېښو مستندول د شته سختو محدودیتونو له امله او په ځانګړي ډول د قربانیانو کورنیو ته د لاسرسي د نشتوالي له امله سخته او ننګوونکې چاره ده. طالبانو له محاکمې پرته وژنو په څېر د جبري تري تم کولو د قضیو اړوند هم پراخ محدودیتونه لګولي دي او په دې برخه کې د هر ډول معلوماتو د خپرولو مخه نیسي. پر همدې بنسټ، ممکن د جبري تري تم کولو د پېښو شمېر له هغو شمېرو زیات اوسي چې په دې راپور کې راغلې دي.

## خپلسرې او غیرقانوني نیونې


د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق د نهمې مادې له مخې، ټول خلک د امنیت او شخصي آزادۍ حق لري. هیڅوک باید په خپلسري ډول و نه نیول شي او هیڅوک باید له خپل شخصي امنیت او آزادۍ څخه محروم نه شي مګر په هغه صورت کې چې قانون او د عادلانه محاکمې اصول یې حکم وکړي.[21] پر همدې بنسټ، هر کله چې له باور وړ قضایي حکم یا قانوني جواز پرته او په قوانینو کې د راغلیو اصولو او مقرراتو له رعایت پرته څوک نیول کیږي، او وګړي له عادلانه محاکمې څخه محروم شي، د شخصي امنیت او آزادۍ د حق نقض ګڼل کیږي.

سره له دې، د دې راپور موندنې ښیي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۱۵۰۹ تنه د ۱۶ ښځو په ګډون په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. رواداري د ۲۰۲۴ کال په همدې دوره کې ټول ۶۱۴ خپلسرې او غیرقانوني نیونې ثبت کړې وې.[22] د دواړو شمېرو پرتلنه ښیي چې د راپور په دې دوره کې د خپلسرو او غیرقانوني نیونو کچه دوه چنده زیاته شوې ده. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو اړوند معلومات د ۲۰۲۳ کال د همدې دورې په پرتله چې ۲۲۲ پېښې وې شپږ چنده زیاتوالی ښیي. د مدني اقداماتو پراخ ځپنه او د مخالفانو او منتقدانو پر وړاندې د غږ اخیستنې کړنې، د طالبانو د عادلانه محاکمې له اصولو څخه نه‌التزام، له قانون څخه پورته چلندونه، او په ځانګړي ډول د امر بالمعروف ادارې ته د افرادو د نیولو او بندي کولو په برخه کې د نامحدودو صلاحیتونو ورکول، د دې برخې د شمېر د زیاتېدو له مهمو دلایلو څخه دي.

د مخکني حکومت کارکوونکي، د طالبانو په نظامي او سیاسي مخالفو ډلو کې په غړیتوب تورن کسان، مدني فعالان او خبریالان، د خواله رسنیو کاروونکي، دیني علما، معترضان او ښځې هغه خلک دي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د طالبانو له خوا په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. پر یادو کسانو لګول شوي تورونه د وسلې لېږدول، د مخالفو نظامي او سیاسي ډلو همکاري، پر طالبانو نیوکه او تبلیغات او د شرعي محرم درلودلو په برخه کې د امربالمعروف له قانون څخه سرغړونه، د پوښاک ډول، د نایینه ؤ د ږیرې او ویښتو اندازه، د موسیقۍ اورېدل، د جمعې لمانځه ته نه حاضرېدل، ښځو سره خبرې او ښځو باندې د توکو پلورل او د اعتراضي غونډو او راټولېدنو جوړول دي.

21 . د مدني او سیاسی حقونو بین المللي میثاق، ۹مه ماده.
22 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ۱۱ مخ.

### د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په لومړیو شپږو میاشتو کې د خپلسرو نیونو د شمېرو پرتلنه




## د خپلسرو او غیرقانوني نیونو عاملان

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د خپلسرو نیونو ډېری موارد د دوه ادارو استخباراتو او امربالمعروف له خوا ترسره شوي دي. د استخباراتو ځواکونو ډېری د مخکني حکومت کارکوونکي، مخالفین او معترضان، دیني عالمان، خبریالان، مدني فعالان او د خواله رسنیو کاروونکي د ځینې او غچ اخستنې په موخه، د هیڅ ډول رسمي سند له وړاندې کولو، د تور له اعلانولو یا د عادلانه محاکمې د اصولو او موازینو له رعایت پرته نیولي او بندیان کړي دي.

د امربالمعروف اداري هم یادو اصولو او موازینو ته له پاملرنې پرته، هیوادوال د دې بنسټ د سختو مقرراتو د نه پیروۍ له امله نیولي او زنداني کړي دي. د دې اداري مامورینو په ځانګړي ډول د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون له خپرېدو وروسته، ښځې په بېلابېلو تورونو په پراخه توګه له رستورانتونو، موټرو، روغتونونو، ښارونو او نورو عمومي ځایونو څخه د هیواد په بېلابېلو برخو کې نیولې او بندیانې کړې دي. دا ښځې دوی ته د منسوبو شویو تورنو ډول ته په پام له څو ساعتونو تر څو میاشتو په بند کې پاتې شوې دي او په دې موده کې له خپلو ټولو قانوني حقونو څخه محرومې وي.

لکه څنګه چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یواځې د هیواد په سویل لویدیځه حوزه کې کم تر کمه ۲۵۰ تنه د طالبانو د امربالمعروف د مامورینو له خوا د پوښاک، د ږیرې او ویښتو د اندازې او سټایل، د جمعې لمانځه ته نه حاضرېدو او ورته مواردو اړوند، د دې اداري له قانون څخه د سرغړونې له امله نیول شوي او بندیان شوي دي.

سربېره پر دې، نورو بنسټونو او سیمه ییز چارواکو لکه امنیه قومندانیو، والیانو، ولسوالانو او د سیمه ییزو ادارو مسئولینو هم په دې موده کې د هیوادوالو د آزادۍ او شخصي امنیت حق په خپلسري ډول نقض کړی او هغوی یې په خپلو شخصي زندانونو کې ساتلي دي. د بېلګې په توګه، د هیواد په سویل لویدیځه حوزه کې په یوه ولسوالۍ کې د طالبانو د زراعت د سیمه ییزې اداري مسئول، یو تن د خپلې ځمکې د اجارې د نه ورکولو په تور د لس ورځو لپاره په خپل کاري دفتر کې بندي کړی و. دا وضعیت ښیي چې د طالبانو ځواکونه له ځواب ویلو څخه د هر ډول مصئونیت په احساس سره، د واک په هره کچه کې کولای شي خلک په خپلسري او غیرقانوني ډول ونیسي او بندیان یې کړي.

## الف- د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نيونې

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې کم تر کمه ۴۶ تنه د مخکني حکومت ملکي او نظامي کارکوونکي، په غير قانوني ډول ډېری د طالبانو د استخباراتو د اداري له خوا نيول شوي او بنديان شوي دي. د دې شمېرو پرتلنه ښيي چې د مخکني حکومت د کارکوونکو خپلسرې نيونې د ۲۰۲۴ کال په همدې دوره کې چې ۶۴ پېښې وې ۲۸.۱ فيصده کمې شوې دي. همدا راز دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله چې ۷۳ پېښې وې ۳۶.۹ فيصده کموالی ښيي. سربېره پر دې، اطلاعاتو ته پر لاسرسي لګول شوي محدوديتونه، له هيواده د پام وړ حکومتي کارکوونکو تېښته او په تېرو ځلورو کلونو کې د غچ اخستونکو اقداماتو ترسره کېدل ممکن په دې برخه کې د شمېرو د کموالي لامل اوسي.

### د مخکني حکومت د کارکوونکو د خپلسرو نيونو د شمېرو پرتلنه




د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۱۱مه، د طالبانو استخباراتو يو مخکنی نظامي د وسلې درلودلو په تور د غور ولايت مرکز فيروزکوه ښار کې ونيو. هغه دوه مياشتې په زندان کې و، او د يو ميل وسلې په بدل کې چې د کورنۍ له خوا يې طالبانو ته تسليم شوه، خوشې شو.

په دايکندي ولايت کې هم د طالبانو د استخباراتو اداري د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲۳مه دوه تنه مخکني نظاميان په کيتي ولسوالۍ کې د وسلې درلودلو په تور ونيول شول او شکنجه شول. دا کسان له يوې اونۍ وروسته له بنده خوشې شول.

په يوه بله پېښه کې د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۱۳مه نېټه طالبانو يو مخکنی نظامي د فارياب ولايت په خواجه سبز پوش ولسوالۍ کې په نااعلان شوي تور ونيو. همدا راز، هغوی د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۱۰مه په بادغيس ولايت کې دوه مخکني نظاميان ونيول او بنديان يې کړل. په پروان ولايت کې هم طالبانو د مخکني حکومت يو کارکوونکی د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۲۲مه ونيو خو د نيولو لامل يې اعلان نکړ. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۷مه طالبانو په بغلان ولايت کې يو مخکنی نظامي ونيو او بندي يې کړ. له سيمه ييزو سرچينو څخه د ترلاسه شويو معلوماتو پر بنسټ هغه له ايرانه تر راستنېدو وروسته، په هغو دلايلو چې لا معلوم نه دي تر اوسه په بند کې پروت دی.



همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په مارچ میاشت کې په غزني ولایت کې د استخباراتو اداري یو مخکنی نظامي چې نوی له ایرانه راستون شوی و، ونیو. هغه دوه شپې د طالبانو په زندان کې و او د خپلو دوو مخکنیو همکارانو د نومونو او ادرسونو افشا کولو ته اړیستل شو. طالبانو وروسته د هغه همکاران هم ونیول او هغوی یې اړیستل چې پیسې ورکړي. دې کسانو د هرې وسلې په بدل کې چې طالبانو ادعا درلوده چې له دوی سره شته، یو لک شل زره افغانۍ ورکړې او خوشې شول.


Photo (C) Alamy - Sayed Habib Bidell

## ب- د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعينو خپلسرې نيونې

د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۵ ښځو په ګډون کم تر کمه ۳۲ تنه مدني فعالان او د بشر حقونو فعالان په خپلسرې ډول بنديان کړل. د دې کسانو تور ښځو او نجونو ته د ښوونيزو کورسونو جوړول، د طالبانو پر ضد تبليغات او د ښځو د ستونزو او نورو مسائلو اړوند د دې ډلې پر سياستونو نيوکه وه.

رواداري د ۲۰۲۴ کال په همدې دوره کې د مدني فعالانو، د بشر حقونو د مدافعانو او خبرياﻻنو د خپلسرو او غيرقانوني نيونو ټولې ۲۰ پېښې ثبت کړې وې. د يادو شمېرو پرتلنه ښيي چې د مدني فعالانو، د بشر حقونو د فعالانو او خبرياﻻنو د خپلسرو نيونو کچه د ۲۰۲۵ کال د لومړۍ نيمايي په پرتله د ۶۰ فيصدو په اندازه زياته شوې ده. همدا راز دا شمېرې د ۲۰۲۳ کال په همدې دوره کې چې ۴۷ پېښې وې ۳۱ فيصده کموالی ښيي.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړيو شپږو مياشتو د شمېرو پرتلنه




د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د مدني فعالانو، خبرياﻻنو او د بشر د حقونو مدافعانو د نيولو ډېرى موارد په دې دوره کې د طالبانو د استخباراتو د ادارې له خوا ترسره شوي دي. دا افراد لکه څنګه چې مطرح شول ډېرى د طالبانو پر سياستونو د نيوکې او انتقاد له امله په ځانګړې ډول د ښځو د بنسټيزو حقونو او آزاديو په برخه کې د محدوديتونو اړوند د نيوکو له امله نيول شوي او بنديان شوي دي.

طالبانو له خپلسرو او غيرقانوني نيونو څخه د مخالفو او منتقدو غږونو د ځپنې لپاره ګټه پورته کړې او پر خپلو سياستونو نيوکه په هره کچه او هره اندازه چې وي له تاوتريخوالي په ډکو طريقو ځپي. په دې کې د استخباراتو اداره د خبرياﻻنو، مدني فعالانو، د بشر حقونو د فعالانو او حتا د خواله رسنيو د کاروونکو فعالتونه پرله پسې څاري.

رواداري د روان کال په لومړۍ نيمايي کې ډېر شمېر موارد مستند کړي دي چې خلک يواځې په خواله رسنيو کې د انتقادي يادښتونو د خپرولو له امله د استخباراتو اداري له خوا نيول شوي او بنديان شوي دي. د بېلګې په توګه،

**د ۲۰۲۵ کال د مې پر ۵مه نېټه طالبانو په غزني ولايت کې يو سيمه ييز خبريال په فيسبوک خواله رسنۍ کې د يو انتقادي پوست خپرولو له امله ونيو. دې خبريال د يو شمېر اقتصادي او ټولنيزو ستونزو او ننګونو بيانولو تر څنګ د تعليم له حق څخه د ښځو پر عمدي محروميت نيوکه کړې وه. د طالبانو محکمې هغه «د نظام پر ضد د تبليغاتو» په تور په درې مياشتې بند محکوم کړ. د ۲۰۲۵ کال د جون**


**پر ۱۲مه نېټه له دایکندي ولایت څخه یو مدني فعال د دایکندي ولایت په اشترالي ولسوالۍ کې د یو شیعه عالم د نیولو اړوند د انتقادي تبصرې له امله، د استخباراتو اداري له خوا ونیول شو. د طالبانو لومړنۍ محکمې وروسته هغه په شپږ میاشتې تنفیذي بند محکوم کړ.**

په یوه بله ورته پېښه کې، د طالبانو استخباراتو د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲مه نېټه د بدخشان ولایت په مرکز کې یو خبریال او مدني فعال په فیسبوک خواله رسنۍ کې د یو پوست د خپرولو له امله د درې ورځو لپاره بندي کړ. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۲۱مه د غزني ولایت په اندړ ولسوالۍ کې یو مدني فعال په خواله رسنیو کې پر طالبانو د نیوکې له امله ونیو. د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، د استخباراتو ځواکونو د عادلانه محاکمې موازینو ته له پاملرنې پرته، لکه د تور بیانولو، واک لرونکو مراجعو ته د دوسیې راجع کولو او قضایي طی مراحلو پرته دغه کس مخامخ د دې ولایت عمومي زندان ته ولېږداوه.

د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۲۴مه د استخباراتو مامورینو د بغلان ولایت د فرنګ ولسوالۍ یو محصل او مدني فعال له خپل کور څخه ونیو. سیمه ییزو سرچینو ویلي چې د دې شخص د نیولو لامل پر طالبانو نیوکه وه. همدا راز،

**د ۲۰۲۵ کال په می میاشت کې طالبانو یو دیني عالم او رسنیز فعال په هلمند ولایت کې د تعلیم او تحصیل له حق څخه د ښځو د محرومیت په اړه د انتقاد له امله ونیو. هغه رسنیوسره د مرکې نه کولو په شرط او پر طالبانو د نیوکې نه کولو په شرط له یوې میاشتې بند وروسته خوشې شو.**

**له بل پلوه، د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۴مه نېټه د استخباراتو اداري یو خبریال په کابل ښار کې په تبعید کې له فعالیت کوونکو رسنیو سره د همکارۍ له امله ونیو. دا خبریال مخکې هم د طالبانو له خوا نیول شوی او شکنجه شوی و. د ۲۰۲۵ کال د می پر ۱۴مه نېټه د طالبانو استخباراتو یو اوزبیک ټولنیز فعال د بدخشان ولایت له ارګوی ولسوالۍ څخه د اوزبیکانو اړوند د ټولنیزو فعالیتونو له امله ونیو او بندي یې کړ.**



طالبانو پر هغه لګولی تور لارینونه ته د خلکو هڅول او د هغوی د نظام پر ضد د بسیج هڅې بللې. نوموړی وروسته د سیمې د مشرانو په ضمانت او د فعالیت د نه‌کولو په شرط له زندان څخه خوشې شو.


د ۲۰۲۵ کال د جون په میاشت کې طالبانو یو ښوونکی او د بشر حقونو فعال د پکتیکا په جاني خیل ولسوالۍ کې د ساینسي علومو او ټیکنالوژۍ زده کړې ته د خلکو د تشویقولو له امله ونیوې او بندي یې کړ. وروسته د ۲۰۲۵ کال د جولای پر ۱۶مه نېټه د دې لسوالۍ ابتدائیه محکمې هغه د اسلام پیغمبر او اسلامي مقدساتو ته د سپکاوي په تور د اعدام په سزا محکوم کړ. له سیمه ییزو سرچینو څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي چې له دې کس سره د طالبانو د یو سیمه ییز قومندان شخصي بدي هم د هغه په نیول کېدو او محکومیت کې نقش درلود.

یاد موارد چې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مدني فعالانو او د بشر حقونو د مدافعانو د پراخو نیونو یوه برخه ده، ښيي چې طالبانو په سازمان شوي ډول په ټول هیواد کې خپل منتقدین او مخالفین ځپلي دي. سربېره پر دې، رواداري ښځو او نجونو ته د تعلیم د غوښتلو له امله د بشر حقونو د فعالانو د نیولو ډېرې پېښې مستندې کړې دي چې د راپور په نورو برخو کې به یې وضاحت ورکړل شي.

### ج- د طالبانو د مخالفو ډلو د همکارۍ په تور د خلکو خپلسرې نیونې

طالبانو د راپور په دې دوره کې کم تر کمه ۱۵۷ تنه د دوی د نظامي او سیاسي مخالفو ډولو سره د اړیکو په تور بندیان کړي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال د همدې مودې په نسبت ۳۷.۶ فیصده کموالی ښيي. سربېره پر دې، د راپور د دې دورې اړوند د معلوماتو پرتله د ۲۰۲۳ کال د شپږو میاشتو په پرتله چې ۵۳ پېښې وې له دوه چنده ډېر زیاتوالی ښيي.

**د ۲۰۲۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو او د ۲۰۲۴ کال د لومړیو شپږو میاشتو د شمېرو پرتله**




**د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمايي کې ټول نیول شوي کسان نارینه ؤ، چې د ملي مقاومت جبهې، د آزادۍ جبهې او په حزب التحریر کې د غړیتوب په تور د طالبانو د استخباراتو اداري او پولیسو له خوا نیول شوي دي. په دې کې ډېرې نیونې د استخباراتو د مامورینو له خوا ترسره شوي دي.**

ترلاسه شوي شواهد ښيي چې طالبانو د دې کسانو د نیونو اړوند اقدام، قانوني موازینو ته له پاملرنې پرته، لکه عادلانه محاکمې ته د هغوی د لاسرسي له تضمینولو پرته ترسره کړی دی. د بېلګې په توګه، په سویل لویدیځه حوزه کې د حزب التحریر یو شمېر غړي چې طالبان یې فکري مخالفین ګڼي، له دوو کلونو څخه پرته له دې چې دوسیې یې محکمې ته

ولېږدول شي، په زندان کې ساتل کیږي. د دې حزب دوو غړو په یوه مرکه کې رواداري ته ویلي چې طالبانو د دې حزب د نیول شویو کسانو اړوند ویلي چې تر هغه وخته به په زندان کې وساتل شي چې له خپلو باورونو او مفکورې څخه لاس واخلي او پښېماني څرګنده کړي.

ډېر نور موارد هم شته چې یو شمېر بندیانو په داسې حال کې چې مخکې یې د خپل بند د سزا موده پوره کړې ده، لا هم په زندان کې پراته دي. په دې اړوند، له کندهار ولایت څخه سیمه ییزو سرچینو رواداري ته ویلي چې د طالبانو محکمو د ځینو دې کسانو د خوشې کولو لپاره، څو ځلې د زندان مسئولینو ته لیک لېږلی، خو هغوی قصداً د نه پاملرنې له امله لا هم هیڅ اقدام نه دی ترسره کړی. یو شمېر دغه کسان چې باید ښېر میاشتې مخکې خوشې شوي وای، لا هم په غیرقانوني ډول په زندان کې ساتل کیږي. دا پېښه د خلکو د غیرقانوني نیونې او د آزادۍ او شخصي امنیت د حق د نقض ښکاره مصداق ګڼل کیږي.

په یادو پېښو سربېره، د ۲۰۲۵ کال د می پر ۲۴مه طالبانو د پنجشېر ولایت یو اوسېدونکی له ملي مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور په کابل ښار کې ونیو. د دې نیول شوي کس د کورنۍ یو غړي ویلي چې هغه نوی له ایران څخه هیواد ته ستون شوی و او له هیڅ سیاسي ګوند او ډلې سره یې تماس نه درلود. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۳مه نېټه طالبانو د فاریاب ولایت د میمنې ښار دوه تنه اوسېدونکي له ملي مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور ونیول چې لا هم په زندان کې پراته دي. د ۲۰۲۵ کال د جون پر لومړۍ نېټه د غور ولایت د تولک ولسوالۍ یو اوسېدونکی له ملي مقاومت جبهې سره د همکارۍ په تور د طالبانو له خوا ونیول شو او بندي شو. په همدې حال کې، طالبانو د ۲۰۵ کال د مارچ پر ۱۹مه نېټه څلور تنه د بادغیس ولایت اوسیدونکي له ملي مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور ونیول.

له بل پلوه، د استخباراتو اداري د ۲۰۲۵ کال په جون میاشت کې د پروان ولایت دوه تنه اصلي اوسیدونکي په هرات ولایت کې له ملي مقاومت جبهې سره د غړیتوب په تور ونیول او ۱۵ ورځې وروسته یې له نظارت خونې څخه عمومي زندان ته ولېږدول.

## د- د خپلسرو او غیر قانوني نیونو نور موارد

د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۱۱ ښځو په ګډون ۱۲۷۴ تنه په غیرقانوني او او خپلسري ډول نیول شوي او بندیان شوي دي. پر دې کسانو لګول شوي ډېری تورونه د امربالمعروف له قانون څخه سرغړونه، لکه د لباس ډول، د ږیرې او د سر د ویښتو اندازه او سبک، د جمعې لمانځه ته نه حاضرېدل، بې حجابي او د شرعي محرم نه درلودل، له نا محرم سره خبرې او نور ورته تورونه دي. سربېره پر دې، یو شمېر نور هیوادوال په اعتراضي غونډو او راټولېدنو کې هم نیول شوي چې په اړونده برخه کې به مطرح شي.

د دې راپور موندنې ښیي چې د یادو کسانو خپلسرې او غیرقانوني نیونې، د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له څلور چنده ډېرې زیاتې شوې دي. رواداري د ۲۰۲۴ کال په لومړۍ نیمايي کې د ۲۵۸ په شمېر د خپلسرو او غیرقانوني نیونو پېښې ثبت کړې دي.

همدارز، طالبانو د ۲۰۲۵ کال په جون میاشت کې په هرات ولایت کې درې ښځې ونیولې او ناوړه چلند یې ورسره وکړ. دا ښځې چې د پاسپورټ اخستلو لپاره اړوندې اداري ته تللې وې، د مراجعینو په بې نوبتۍ یې اعتراض کړی و، طالبانو هغوی ونیولې او د امربالمعروف اداري ته یې یوړې. په دې اړه یو مرکه شوي ویلي: «د امربالمعروف مامورینو دا ښځې تحقیر او

په دې برخه کې د خپلسرو نیونو د شمېر زیاتوالي لامل، د عمومي ژوند او د هیوادوالو د خصوصي حریم د کنټرول په ځانګړي ډول د ښځو د شخصي حریم لپاره د امربالمعروف د مامورینو د غیرقانوني اقداماتو زیاتوالي دی.

د طالبانو د امربالمعروف مامورین په ښارونو او نورو عمومي ځایونو کې ګرځي او خلک ځوروي او نیسي یې. د بېلګې په توګه دوی د ۲۰۲۵ کال د جون په میاشت کې په کندهار ولایت کې د درمل پلورنې مارکېټ باندې هجوم ور وړ، درمل پلورونکي او مراجعین یې د ږیرې لنډولو له امله په ډله ییزه او پراخه توګه ونیول. په غزني ولایت کې هم د امربالمعروف مامورینو د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۹مه نېټه د ۲۲ په شمېر د ښاروالۍ خدماتي کارکوونکي د ږیرې د لنډولو او خولۍ نه درلودلو په تور بندیان کړل.


Photo (C) AMU TV Website - File Photo

توهین کړې او و یې ویل چې تاسو د جمهوریت د وخت د مدني ټولنې ښځې یئ، بې حجابه یئ او له بې غیرته کورنۍ نه یئ، تاسو د غربیانو ملاتړ او د اسلامي ارزښتونو سره مخالفت کوئ.» دا ښځې د امربالمعروف اړوند په یو کانتینر کې له درې ساعته ساتلو وروسته د هغوی له کورنیو څخه د ضمانت په اخستلو خوشې شوې.

د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۲۷مه نېټه طالبانو یوه نجلۍ د فاریاب ولایت په میمنې ښکار کې «له نامحرم سره د خبرو او د فحشا د ترویج» په تور ونیوله او بندي یې کړه. د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۱۲مه د غزني ولایت په مرکز کې د امربالمعروف مامورینو یو د واده زلمی او ور سره مله دوه کسان د واده له سالون څخه د موسیقۍ د غږولو له امله ونیول او امربالمعروف ادارې ته یې ولېږدول. د دې کس خپلوانو ویلي د امربالمعروف محتسبینو د ښځو پر تالار هجوم ور ووړ، د واده ځلمی او د هغه دوه نور خپلوان یې ونیول او خپل ځان سره یې یوړل.

یاد موارد چې د هیوادوالو د آزادۍ او شخصي امنیت د حق د نقض ښکاره مصداقونه دي، دا ښیي چې د امربالمعروف اداره له تاوتریخوالي په ډکو او غیرقانوني طریقو د هیوادوالو بنسټیزي آزادۍ په سازمان شوي ډول ځپي.

## د انساني کرامت د حق نقض

انساني کرامت د ذاتي حقونو برخه او د انسانانو د برابرو حقونو بنسټ ګڼل کیږي. دا حق د انسانانو پر حرمت او شرافت تاکید کوي او باید په هیڅ شرایطو کې له نظره و نه غورځول شي. پر همدې بنسټ، انساني کرامت ته درناوی د خلکو د حقونو رعایت، لکه له هر ډول شکنجې، تحقیر، توهین او د ظالمانه چلندونو نورو ډولونو څخه خوندیتوب ته اړتیا لري.[23] سره له دې، د رواداري موندنې ښیي چې طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې خلک د معلوماتو ترلاسه کولو، اعتراف یا اقرار اخستلو لپاره په وېرولو، تحقیرولو او بېلابېلو طریقو شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی. همدا راز، د طالبانو محکمو په یاده موده کې په پراخه توګه د ظالمانه، غیر انساني او تحقیروونکو سزاګانو احکام صادر کړي او پلي کړي دي.

### الف- د زندانیانو شکنجه کول او ورسره ناوړه چلند

له شکنجې خلاصون د خلکو له مطلقو، نه سلبېدونکو او نه ځنډېدونکو حقوقو څخه دی، چې تر هیڅ شرایطو لاندې او حتا په استثنایي وضعیتونو لکه د جګړې وېره، داخلي بې ثباتی، ناامنی یا هر بل اضطراري وضعیت کې د نقضېدو وړ نه دی. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو او سزاګانو د مخنیوي کنوانسیون او د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون د خلکو شکنجه کول او ربړول منعه کړي دي.[24]

په افغانستان کې دا مهال د شکنجې د جرم ګرځولو لپاره هیڅ قانون نشته او طالبانو اساسي قانون، جزايي قوانین او د شکنجې د مخنیوي ځانګړی قانون لا له وړاندې ځنډولي دي.[25] پر همدې دلیل شکنجه او ناوړه چلند په عدلي او قضايي بنسټونو او د آزادۍ د سلب په ځایونو  کې د دود طریقو په توګه بنسټیز شوي دي. ځکه په دې هیواد کې د شکنجې د ترسره کوونکو د حقوقي تعقیب لپاره هیڅ قضايي میکانیزم نشته او قربانیان د خپل شکایت د ثبت او تعقیب امکان نه مومي.

23 . د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، مقدمه او لومړۍ ماده.
24 . د شکنجې د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، لومړۍ ماده. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۷مه ماده.
25 . رواداري، د طالبانو په عدلي او قضايي نظام کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۱۳مخ، RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf/03/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025

سره له دي، ترلاسه شوي شواهد او اسناد ښيي چې طالبانو يادو اصولو او موازينو ته له پاملرنې پرته، چې د شکنجې په بې قيد و شرطه منعه کېدو تاکيد کوي، خلک يې په بېلابېلو ډولونو د اعتراف او اقرار اخستلو لپاره په وهلو، خبرداري ورکولو يا تحقيرولو سره شکنجه کړي او ناوړه چلند يې ورسره کړی. قربانيان ډېری د مخکني حکومت کارمندان، د طالبانو له مخالفو ډلو سره په اړيکو تورن کسان، خبريالان او مدني فعالان دي.

## د شکنجې ډولونه او لاري چاري

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ولايتونو په مرکزونو کې د يو شمېر عمومي زندانونو (محبسونو) وضعيت لومړنيو امکاناتو ته د بنديانو د لاسرسي له اړخه ښه شوی، او په دې ځايونو کې شکنجه او ناوړه چلند هم کموالی موندلی. سره له دې، تر ټولو ډېره شکنجه او ناوړه چلند د استخباراتو، پوليسو او په ځانګړي ډول د ولسواليو په امنيې قومندانيو او د امربالمعروف اداري په نظارت خونو کې ترسره کيږي.**

په کوتک، سوکانو او لغتو، د ټوپک په قنداق او کېبل وهل، برقي شارټ، د قربانيانو سر ته پلاستيک خلته اچول، مصنوعي غرقول، د ويښتو ويستل، د دار په تناب ځوړندول، له پښو او لاسونو په چت پورې ځوړندول، د لاسونو د نوکانو ويستل، په ځاه کې اچول، وږی او تږی ساتل، په انفرادي تورو تمبو کې د اوږد مهال لپاره ساتل، جنسي، قومي او مذهبي تحقير او توهين، تر ستونې نيول او د بندي يا د هغه د کورنۍ د غړي په وژلو وېرول د طالبانو د آزادۍ د سلب په ځايونو کې د شکنجې دود طريقې دي.

طالبان له شکنجې څخه د تنبيه، وېرولو يا تحقير، له قربانيانو څخه د اطلاعاتو، اقرار يا اعتراف اخستلو لپاره ګټه اخلي او حتا هغه کسان يې هم شکنجه کړي او ناوړه چلند يې ورسره کړی چې په تېروتنه او د ناسمو معلوماتو له مخې نيول شوي دي. د بېلګې په توګه له

**هلمند ولايت څخه يو خوشې شوي بندي ويلي: «سهار د جون د مياشتې پر ۸مه نېټه، کله چې د ولسوالۍ بازار ته روان وم د طالبانو له خوا ونيول شوم. هغوی زه امنيه قومندانۍ ته يورم او هره شپه يې د ټوپک په قنداق، سوکانو او لغتو شکنجه کولم. يوه اونۍ هلته وم او د خپل تور په اړه په هيڅ نه پوهېدم. يوه اونۍ وروسته يې خوشې کړم او و يې ويل ته مو د بل کس سره په تېروتنه نيولی وې.»**

د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۲۷مه نېټه، د طالبانو استخباراتو درې تنه د پنجشېر ولايت اوسېدونکي له مخالفو ډلو سره د همکارۍ په تور په کابل ښار کې ونيول. له دې نيول شويو کسانو څخه يو يې رواداري ته ويلي چې درې مياشتې وروسته او کله چې طالبانو لګېدلی تور ثابت نکړای شو هغوی يې له زندانه خوشې کړل. هغه څرګنده کړې چې: «په زندان کې دا چې پنجشېری وم ډېر توهين شوم او سره له دې چې يو سپين ږيری وم وهل ټکول يې راکول.» بل مرکه شوي په دې اړه ويلي: «طالبانو څو مياشتې وروسته او له دې امله چې و يې نشول کولای وارد شوی تور ثابت کړي موږ يې له زندانه خوشې کړو. هغوی زه په يو يخې او له اوبو ډکې خونې کې شکنجه کولم، په کېبل يې وهلم او ناموسي کنځلې راته کولې.» د دې کس د کورنۍ غړي هم وايي چې طالبانو هغه د ناسمو معلوماتو پر بنسټ نيولی و.

**له غور ولایت څخه یو مخکني نظامي ویلي چې: «د روژې مبارکې میاشتې څخه مخکې د خوراکي موادو اخستلو لپاره فیروز کوه ښار ته لاړم، کوچنی ورور مې هم راسره و. پر لاره ځلورو وسله والو کسانو ودرولو. هغوی مې سترګې وتړلې او زما په ډبولو یې شروع وکړه، ما نه یې وسله غوښته. هغوی راته وویل چې که وسله ورنکړم ورور به مې ووژني. ورور مې وبریدلی و او ژړل یې، بیا یې پر سر پر قنداق ووهلم چې بې هوښه شوم. ۴۰ ساعته وروسته چې بېرته په هوښ راغلم د دولتیار ولسوالی په نظارت خونه کې وم. څلور شپې او ورځې هلته تر سختې شکنجې لاندې وم، زه یې تر ستوني نیولم، سر یې راته په اوبو کې ډوباوه او په مرګ یې ګواښلم. وروسته له هغې چې کورنی مې یو کلاشینکوف ورته تیار کړ له زندانه یې خوشې کړم.»**

**له پروان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۷مه نېټه کله چې د خپل یو خپلوان میلمه و، د کور وسایل یې غلا شوي دي. دا کس وروسته د طالبانو پولیسو حوزې سره اړیکه نیسي او شکایت کوي. د حوزې مسئولینو لس ورځې وروسته هغه ته اطلاع ورکړه چې غله یې نیولي او باید حوزې ته ورشي. هغه ویلي چې: «کله چې حوزې ته ورغلم په یو کانتینر کې دري تنه پراته ؤ، او دومره ډبول شوي ؤ چې خبري یې نشوي کولی. سره له دې چې زما د کور وسایل یې غلا کړي ؤ، خو زړه مې ډېر پرې وسوځېد. هغوی یې سخت شکنجه کړي ؤ، سر او مخ یې پړسیدلي او تور شوي ؤ چې د هر انسان زړه یې درداوه.»**

هغه موارد چې یادونه یې وشوه د طالبانو تر کنټرول لاندې په زندانونو کې د ټولو پېښو شویو قضیو یوه بېلګه ده چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې مستندې شوې دي. رواداري په یو څېړنیز راپور کې چې د قربانیانو په لومړي لاس او مستندو روایتونو ولاړ دی، د آزادۍ د سلب د ځایونو وضعیت او د طالبانو د چلند ډول د خلکو له نیول کېدو څخه د هغوی تر خوشې کېدو پورې په تفصیل او جزئیاتو سره ارزولی دی.[۲۶]


## د بندیانو وژنه

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۴ تنه د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې له سختې شکنجې وروسته وژل شوي دي. رواداري په ۲۰۲۴ [۲۷] کال کې په قتل د تمامو شویو شکنجو ټولې ۱۲ پېښې ثبت کړې وې. د دواړو شمېرو پرتله ښیي چې په ۲۰۲۴ کال کې د بندیانو وژنې د ۶۶.۶ فیصدو په شمېر کمې شوې دي. همدا راز دا شمېرې په ۲۰۲۳ کال کې په همدې موده کې چې ۱۰ پېښې وې ۶۰ فیصده کموالی ښیي.

26 . رواداري، شکنجه او ناوړه چلند: د طالبانو تر ولکې لاندې په افغانستان کې د زندانونو وضعیت (۲۰۲۵ جون) https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/06/RW_TortureReport_Dari-Final.pdf

27 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د بشر حقونو وضعیت، ۱۹ مخ.

د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو د لومړیو شپړو میاشتو د شمېرو پرتلنه




**معلومات ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې په قتل تمامې شوې د شکنجې پېښې د طالبانو د استخباراتو د اداري په نظارت خونو کې پېښې شوې دي.**

**د ۲۰۲۵ کال په جنوري مياشت کې د طالبانو د استخباراتو ځواکونو دري تنه د پروان ولايت اوسيدونکي له نيولو وروسته شکنجه کړي او وژلي دي. هغوی لومړی يو قرباني ونيو او له يوې شپې سختې شکنجې وروسته يې د خپل کور تر څنګ خوشې کړ. سيمه ييزو سرچينو ويلي چې طالبانو دا کس داسې شکنجه کړی و چې په سختۍ او نيم ژواندي ځان يې کورته ځان ورساوه. يوه ورځ وروسته طالبانو بيا هغه او دوه تنه نور د سيمې اوسيدونکي ونيول او له ځان سره يې يوړل. دوه ورځې وروسته طالبانو د دې دري تنو مړي د هغوی کورنۍ ته وسپارل. تر هغې وخته د قربانيانو کورنيو د هغوی د برخليک په اړه هيڅ خبر نه درلود. يو مرکه شوي په دې اړه ويلي: «کله چې د جسدونو تسليمولو ته ورغلو د هغوی پر بدن د سختې شکنجې نښې ليدل کيدې او دا چې په سر او مخ په ډزو ويشتل شوي ؤ په سختۍ سره د پېژندلو وړ ؤ.»**

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ پر ۱۴مه نېټه، طالبانو د پنجشېر ولايت د ملي مقاومت جبهې د يو غړي مړی له دوه کاله بند او شکنجې وروسته د هغه کورنۍ ته وسپاره. دا کس دوه کاله مخکې د درملنې لپاره له پنجشېر څخه کابل ته پر لاره و چې په نښه او ونيول شو. د هغه د يو تن خپلوان په وينا، هغه په دې موده کې د طالبانو په زندانونو کې سخت شکنجه شوی و؛ داسې چې لاس يې مات شوی و او د بدن څو ځايونو يې زيان ليدلی و، لومړی د استخباراتو په نظارت خونه کې او وروسته په پلچرخي او بګرام زندانونو کې ساتل کېده.

## د طالبانو د زندانونو د څارنې د میکانیزم نشتوالی

دا مهال هیڅ څارونکی او خپلواک بنسټ د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب د ځایونو او په ځانګړې ډول د ښځینه‌وو د بندخونو او د استخباراتو د نظارت خونو د څارنې او ورته د لاسرسي اجازه نه لري، او په همدې دلیل شته ستونزو او ننګونو ته د رسیدو امکانات نه دي برابر. که څه هم چې طالبانو په دې برخه کې میکانیزمونه رامنځته کړي؛ خو داسې ښکاري چې د شکنجې د مخنیوي او د مرتکبانو د قضایي تعقیب لپاره اغېزناک نه دي.

د امربالمعروف اداره او د احکامو او فرمانونو د تعقیب اداره په ځینو ولایتونو کې د شکنجې اړوند شکایتونو ته د رسېدو او ثبت لپاره اقدام کوي، خو ډېری امنیتي بنسټونه دا په خپلو چارو کې د مداخلې په توګه ګڼي او یا هم یادو ادارو سره د شکایت ارزونې په موخه د همکارۍ علاقه نه لري.

### د یو رسمي مکتوب پر بنسټ چې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل په میاشت کې په کندهار ولایت کې صادر شوي دی د امربالمعروف اداري د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۶۰ شکایتونه چې د شکنجې اړوند دي په امنیتي ادارو کې ثبت کړي دي. دا شکایتونه پخپله د قربانیانو له خوا په دې اداره کې ثبت شوي دي.

پر همدې بنسټ، د امربالمعروف او د احکامو او فرمانونو د تطبیق اداره په سویل لویدیځه حوزه کې د آزادۍ د سلب د ځایونو د عمومي وضعیت د څارنې تر څنګ د شکنجې په برخه کې شکایتونه هم ثبتوي. خو یادو بنسټونو تر اوسه په دې اړوند او په ځانګړې ډول د شکنجې د مرتکبینو د تعقیب اړوند کوم راپور نه دی خپور کړی.

همدا راز، د طالبانو د زندانونو د چارو د تنظیم اداره، په خپل تشکیل کې د څارنې یوه برخه لري چې کله د ولایتونو د عمومي زندانونو څارنه کوي. د هیواد په یو شمېر نورو برخو کې لکه په بامیان ولایت کې، د امربالمعروف او نهی عن المنکر په نوم کمیسیونونه د زندان د څارنې لپاره جوړېږي چې په لویه کې د بندیانو عمومي او د ژوند وضعیت او خوړو او لومړنیو امکاناتو ته د هغوی د لاسرسي کچه څاري. په ځینو مواردو کې، مرافعه محکمه یا د هغه ولایت والي یو پلاوی د بندیانو د وضعیت ارزونې لپاره ګماري. دا بنسټونه هم هیڅکله علني راپورونه نه خپروي او د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ زندانیان هم ورته د شکایت کولو امکان نه لري؛ ځکه د یاد پلاوي دنده یواځې د عمومي وضعیت او لومړنیو امکاناتو څېړل دي.

سربېره پر دې، په افغانستان کې د بشر حقونو د مرستیال پلاوي د بشر حقونو څانګه د طالبانو تر کنترول لاندې د آزادۍ د سلب له ځایونو او ډېری مهال د توقیف خونو او د ولایتونو په مرکزونو کې د عمومي نارینه او ښځینه زندانونو څارنه کوي. د ترلاسه شویو شواهدو پر بنسټ، د یوناما څارنه د اړوندو مسئولینو د مخکې تر مخکې همغږۍ او اجازې په شرط ترسره کیږي او په دې ترتیب نشي کولای ناڅاپه او مخکې تر مخکې له همغږۍ پرته دا مرکزونه وڅاري. په دې کې د استخباراتو او امربالمعروف د ادارو نظارت خونې په ټولو ولایتونو کې چې ډېرې د شکنجې او ناوړه چلند پېښې پکې کیږي، لا هم د یوناما له لاسرسي څخه وتې دي او دا بنسټ یې د څارلو اجازه نه لري.

## ب- د ظالمانه او غیرانساني مجازاتو پلي کول

د مدني او سیاسي حقونو د بین المللي میثاق ۷مې مادې په صراحت سره ویلي چې هیڅوک شکنجه کیدا نشي او نه هم تر ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو چلندونو لاندې راتلی شي.[۲۸] د بشر حقونو کمېټه د دې میثاق د اوومې مادې په تفسیر کې د ظالمانه او غیر انساني مجازاتو لکه د بدني مجازاتو او په عام محضر کې د اعدام پر مطلق ممنوعیت، د خلکو لپاره د بوګنوونکي او تحقیروونکي ماهیت درلودلو له اړخه بحث کړی، او تاکید کوي چې هیڅ دولت اضطراري وضعیت لکه جنګ یا سیاسي بې ثباتي نشي کولای د دې دول سزاګانو ورکول توجیه کړي.[۲۹]

سره له دې، معلومات ښیي چې د طالبانو محکمو د راپور په دې دوره کې ظالمانه، غیر انساني او تحقیروونکې سزاګانې پلې کړې دي او یا یې د دا دول سزاګانو حکم صادر کړی دی. دا سزاګانې اعدام، سنګسار، بدني سزاګانې او د تورنو کسانو د تحقیرولو لپاره د هغوی مخ تورول دي.

دا چې د طالبانو قضایي بنسټونه د عادلانه محاکمې اصولو، لکه له شکنجې څخه د خلاصون او مدافع وکیل درلودلو ته التزام نه لري او له شکنجې څخه ترلاسه شوي اعترافات د خپل حکم د صادرولو بنسټ ګرځوي، د دا دول سزاګانو پلي کول ډېر اندېښمنوونکي دي. په ځانګړي دول دا چې بې ګناه کسانو ته د سزا ورکولو خطر موجود دی؛ څکه لکه څنګه چې د دې راپور مخکنیو برخو کې مطرح شول طالبانو په تېرو شپږو میاشتو کې یو شمېر کسان د ناسمو معلوماتو پر بنسټ نیولي او شکنجه کړي دي.

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، د طالبانو محکمو په ډېری مواردو کې خلک له کوره د تېښتې، له واده بهر اړیکو، غلا، لواطت، قاچاق، د مخدره موادو او الکولي مشروباتو د تولید او پېر او پلور په تورونو په دُرو وهلي دي. همدا راز، د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یې په قتل د تورنو ۴ کسانو د قصاص حکم کړی، او د یو نامشروع ماشوم په زیږولو تورنې ښځې باندې یې د سنګسار حکم صادر کړی دی.

### ۱. د سنګسار او قصاص سزا

د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د طالبانو محکمو په نیمروز، فراه او بادغیس ولایتونو کې د قصاص ۴ حکمونه اجرا کړي دي او هم یې په دایکندي ولایت کې د یوې ښځې د سنګسارولو حکم صادر کړی.

**د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۱مه نېټه د طالبانو محکمې د بادغیس ولایت په قلعه نو کې دوه تنه په قتل د تورنو کسانو د قصاص حکم په عام محضر کې اجرا کړ. دا کسان د بادغیس ولایت د مرکز په ستېډیم کې د سلګونو کسانو تماشاچیانو په مخکې د ټوپک په ډزو ووژل شول. همدا راز، په یاده نېټه یو بل تن د نیمروز ولایت په زرنج ښار کې د طالبانو د محکمې په حکم د ټوپک په ډز ووژل شو. دا کس هم په قتل تورن و چې د دې ښار په ورزشي ستېډیم کې او د سلګونو تماشاچیانو په مخکې په داسې حال کې چې لاسونه او سترګې یې تړلي ؤ، قصاص شو. په فراه ولایت کې هم یو په قتل تورن کس په یو ورزشي ستېډیم کې د تماشاچیانو په مخکې اعدام شو. د طالبانو عالي محکمې د**

28 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۷مه ماده.

29 . د بشر حقونو کمېټه، ۷ شمېره عمومي نظر: د مدني او سیاسي حقونو د بین المللي میثاق د ۷مې مادې پلي کول، د ۱۹۷۲ کال د جولای پر ۳۰مه تصویب شوی، د سند شمېره 2008/70/23، (HRI/GEN/1/Rev.9 (Vol. 1


**يوې خبرپاڼې په خپرولو اعلان وکړ چې د دې څلورو کسانو د اعدام حکم د طالبانو د رهبر له تائيد وروسته پلی شوی دی.[30]**

له بل پلوه، د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۱۹مه نېټه د طالبانو ابتدائيه محکمې د دايکندي ولايت په اشترلي ولسوالۍ کې يوه ښځه د يو نامشروع ماشوم د زيږولو په تور د سنګسار په سزا محکومه کړې ده. دا حکم تر اوسه پلی شوی نه دی او نوموړې ښځه په زندان کې ساتل کيږي. دا حکم به په پورته محکمو کې له تائيد وروسته تطبيق شي.

## ۲. بدني مجازات

د دې راپور موندنې ښيي، چې د طالبانو محکمو د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د ۶۴ ښځو په ګډون کم تر کمه ۳۲۶ تنه له کوره د تېښتې، لواطت، له واده بهر اړيکو، غلا، د مخدره موادو او الکولي مشروباتو د توليد، اختسلو او خرڅولو په تورونو په دُرو وهلي دي. دا شمېرې د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د شمېرو په پرتله چې ۱۵۱ پېښې وې، دوه چنده زياتوالی ښيي. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د لومړيو شپږو مياشتو اړوندو معلوماتو پرتله د ۲۰۲۳ کال د لومړيو شپږو مياشتو په پرتله چې ۶۹ پېښې وې، له څلور چنده ډېر زياتوالی ښيي.

**د ۲۰۲۵، ۲۰۲۴ او ۲۰۲۳ کلونو په لومړيو شپږو مياشتو کې د بدني مجازاتو د شمېرو پرتله**




د ترلاسه شويو شواهدو پر بنسټ، د طالبانو محکمې نږدې د ټولو ډولونو جرمونو لپاره د دُرو وهل د بشپړونکې سزا په توګه ټاکې چې ډېرى د عامو خلکو له سترګو پناه او له رسنيو څخه په پټه پلې کيږي. په هغو مواردو کې چې د دُرو وهلو سزا په ځانګړي ډول د اخلاقي جرمونو اړوند علني تطبيقوي د امربالمعروف مامورين او د جوماتونو امامان څو ورځې وړاندې تبليغات کوي او د لاسپيکرونو له لارې يا د خبرپاڼو په نشرولو خلک د سزا ورکولو د صحنې ليدلو ته تشويقوي چې په ځينو مواردو کې ډېرى تماشاچيان د ماشومانو په ګډون د ديني مدرسو استادان او زده کوونکي وي او د محکمو کارکوونکي او نور سيمه ييز مسئولين يې هم ننداره کوي.[31]

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ پر نهمه نېټه د طالبانو ابتدائيه محکمې د غزني ولايت په جاغوري ولسوالۍ کې دوه نارينه د نامشروعو جنسي اړيکو په تور د خلکو او نندارچيانو په مخکې په دُرو ووهل. د ۲۰۲۵ کال د اپريل پر ۹مه نېټه د طالبانو لومړنۍ محکمې پر څلورو کسانو د بدني مجازاتو حکم د غلا او نامشروع جنسي اړيکو په تور په عام محضر کې پلی کړ.

30 د پژواک خبري اژانس راپور ورکړ چې په درې ولايتونو کې د څلورو نارينه‌وو د قصاص حکم پلي شو، ۱۱ اپريل ۲۰۲۵، https://pajhwok.com/ps/2025/04/11/-retaliatory-punishment-was-carried-out-on-four-people-in-three-provinces/?utm_source=chatgpt.com

31 . رواداري، د ۲۰۲۴ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د بشر حقونو د وضعيت راپور، ۲۰ مخ.

په کندهار ولایت کې د طالبانو له محکمو څخه ترلاسه شوي معلومات ښيي چې په اونۍ کې هرې دوه ورځې خلک په غیر علني ډول او د خلکو له سترګو پټ په دُرو وهي. د دُرو وهلو سزا لکه څنګه چې وويل شول، د تکمیلي سزا په توګه پر تورنو تطبیقیږي او دا کسان هممهاله د بند په سزا هم محکومیږي. د بېلګې په توګه، په هرات ولایت کې د طالبانو ابتدایه ښاري محکمې د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ پر ۲۴مه نېټه د یوې ښځې په ګډون درې تنه د نامشروع جنسي اړیکو په تور ۳۹ دُرې ووهل او د دوه کاله بند په سزا یې محکوم کړل. د دُرو وهلو سزا د طالبانو د عالي محکمې له تائید وروسته د مرافعه محکمې په انګړ کې تطبیق شوه



Photo (C) Alamy - Imago

د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، له دوی څخه دوه کسان همهاله په دوه کاله بند او ۲۵ دُرو، درېيم کس په درې کاله او شپږ میاشتو بند او ۲۵ دُرو او څلورم کس په دوه کاله او اته میاشتو بند او ۲۵ دُرو محکوم شوي دي.

په کابل ښار کې هم، د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۲۱مه نېټه د طالبانو محکمې ۲۵ تنه د الکولي مشروباتو او مخدره توکو د اخستلو او خرڅولو په تور په عام محضر کې له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو ووهل. همدا راز، د ۲۰۲۵ کال د فبروري پر ۱۲مه نېټه طالبانو یوه ښځه د هغه څه په تور چې اخلاقي فساد یې بللی، د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په انګړ کې په دُرو ووهل.

د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ په ۱۶مه، طالبانو د یوې اعلامیې له لارې د نیمروز ولایت د مرکز اوسېدونکي دعوت کړل چې د ۱۲ تورن کسانو د دُرو د اجرایې د ننداري لپاره حاضر شي. په هغه حکم کې چې د طالبانو د لوړې محکمې په قندهار کې تصویب شوی و، راغلي و چې له دغو تورنو څخه ۶ کسان په عامه محضر کې او پاتې نور له خلکو له سترګو پټې شلاق شي. خو طالبانو د حکم د پلي کولو په ورځ، ۱۱ تنه له خلکو او ننداره کوونکو په  دُرو ووهل.

**طالبان معمولاً د تورنو هویت لکه هغه کسان چې په غیراخلاقي جرمونو او غلا تورن وي له تطبیق مخکې د دُرو هلو حکم له ټولو جزئیاتو سره اعلانوي. په داسې حال کې چې په دې مواردو کې د تورنو کسانو د هویت بربنډول د قانون له مخې منعه دي او د هغوی انساني کرامت، حیثیت او اعتبار ته ضرر رسوي[۳۲].**

## ۳. د غیرانساني سزاګانو نورې بڼې

د هغو مواردو سربېره چې وضاحت یې ورکړل شو، د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمايي کې د غیرانساني او سپکوونکو مجازاتو له نورو بڼو هم ګټه پورته کړې. لکه د ۲۰۲۵ کال په جنوري میاشت کې یې د هلمند ولایت په نوزاد ولسوالۍ کې په غلا د تورن یو کس مخ تور کړ او هغه یې په بازار کې د خلکو په مخ کې وګرځاوه. په ورته بله پېښه کې په همدې نېټه طالبانو د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې یو په مخدره توکو روږدی کس چې په غلا تورن و په یوې سټې یا خاده پورې وتاړه او د خلکو ننداړې ته یې وړاندې کړ چې ټول یې وګوري.

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په جولای میاشت کې طالبانو د دې ولایت په دیشو ولسوالۍ کې یو کس چې له یو کور څخه د غلا پر مهال یې نیولی و، خلکو ته د ښودلو لپاره یې په ټول ښار کې وګرځاوه. دا کړنې د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو مجازاتو تر ټولو سختې بڼې او د خلکو د انساني کرامت د نقض ښکاره مصداقونه ګڼل کیږي، چې د بشر حقونو په بین المللي اسنادو کې منعه شوي دي.

32 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشر حقونو وضعیت، ۲۳ مخ، RW_Annual_Report_Human_Rights_Report_2025_Dari.pdf/04/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025

## د سوله ییزو راټولېدنو او لاریونونو ځپل

د سوله ییزو لاریونونو راغوښتل یو بشري حق دی چې په ډېر شمېر بین المللي اسنادو کې لکه د مدني او سیاسي حقونو بین‌المللي میثاق کې تضمین شوی دی. دا حق د نظریاتو د آزادانه څرګندولو لپاره د عمومي راټولېدنو جوړول، لاریونونه یا د ګډو موخو ګډ ملاتړ رانغاړي.[33] د بشر حقونو بین المللي اسنادو غړي دولتونه مکلف ګرځولي چې نه یواځې د اعتراضي راټولېدونو او لاریونونو مخه و نه نیسي، بلکې د سوله ییزو ترسره کېدو لپاره یې لازم شرایط رامنځته کړي. همدا راز، د یادو اسنادو پر بنسټ، پر دې حق هیڅ محدودیت ته قایل نه شي، مګر تر هغه حده چې قانون یې وړاندوینه وکړي او د ملي امنیت ساتنې یا عمومي نظم، روغتیا یا عمومي اخلاقو لپاره او یا په یوه ولسواکه ټولنه کې د نورو د حقونو او آزادیو د ملاتړ لپاره اړین وي. [34]

سره له دې، طالبان دا مهال هیڅ ډول اعتراضي او عدالت غوښتونکي لاریون ته اجازه نه ورکوي او د زور او له تاوتریخوالي د ډکو لارو چارو په کارولو یې ځپي. لکه څنګه چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو کم تر کمه ۱۶ اعتراضي راټولېدنې په تاوتریخوالي سره ځپلې دي او کم تر کمه ۸۲ تنه لاریون کوونکي یې نیولي دي، ۷ تنه یې وژلي او ۳۲ تنه یې ټپیان کړي دي. دغه راټولېدنې او لاریونونه د قومي تبعیض، د کروندو د تخریب، د ځمکې د غصب او له طبیعي سرچینو څخه د ناعادلانه ګټې اخستنې په اعتراض کې ترسره کېدل. طالبانو د دې راټولېدنو او لاریونونو د ځپلو لپاره هوایي ډزې او پر لاریون کوونکو مخامخ ډزې هم کړي دي، او د لاریون کوونکې یې نیولي او بندیان کړي دي.

د ۲۰۲۵ کال د جون پر ۸مه نېټه طالبانو کم تر کمه ۵۰ تنه اوزبیک لاریون کوونکي د فاریاب ولایت د دولت آباد ولسوالۍ په قوزي بای کلا کلي کې ونیول. وروسته له هغې چې دوو تنو طالبانو د سیمې د نجونو د ځورولو اقدام وکړ د دوی او د اوزبیک ځوانانو تر منځ په دې سیمه کې نښته وشوه. طالبانو وروسته دا ځوانان ونیول، چې دا اقدام د یو اعتراضي لاریون لامل شو. دا اعتراض وروسته د طالبانو د قومي او تبعیضي چلند په نقدولو پراخ شو، خو طالبانو یې د ځپلو لپاره هوایي ډزې وکړې او لاریون کوونکي یې وډبول. هغوی ۵۰ تنه دغه لاریون کوونکي ونیول او وروسته یې اعلان وکړ چې دې کسانو «د اسلامي حکومت او اسلام دین پر ضد اعتراض کړی و.» نیول شوي لاریون کوونکي د سیمې د مشرانو په هڅو د طالبانو له بنده خوشې شول.

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په اولو دریو میاشتو کې، په خاش، جرم، ارغنج خواه، بهارک او وردوج ولسوالیو کې د ۵ لاریونونو په بهیر کې کم تر کمه ۷ تنه لاریون کوونکي وژل شوي، ۵۱ تنه ټپیان شوي او ۳۲ تنه نور نیول شوي دي. دا اعتراضات د کوکنارو د کښتونو له منځه وړلو، تبعیض، د ځمکې د غصب، له طبیعي سرچینو د ناعادلانه ګټې اخستنې، د ځمکې او څرځایونو پر سر د دعوې له امله راپارېدلي ؤ. طالبانو پر لاریون کوونکو په مخامخ ډزوکولو دغه لاریونونه وځپل.

دې ته په پام سره چې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې طالبانو د خلکو اعتراضي لاریونونه له تاوتریخوالي په ډکه توګه ځپلي، خو په ځینو مواردو کې یې دغه لاریونونه د خپلو ګټو او سیاسي غوښتنو لپاره کارولي او خلک یې ورته اړیستلي او هڅولي دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ پر ۲۵مه نېټه په بامیان ولایت کې د طالبانو والي په ګواښ او کاري جبر سره، دولتي کارکوونکي لکه د ښوونځیو ښوونکي او د پوهنتون استادان د دې ډلې د رهبرانو د نیولو اړوند د بین المللي جزایي محکمې پر ضد یو اعتراضي لاریون کې د ګډون لپاره اړیستل. همدا راز، په یو شمېر نورو ولایتونو کې طالبانو خلک د فلسطین په ملاتړ د لاریونونو او راټولېدنو لپاره هڅولي دي.

33 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۲۱مه ماده.
34 . هماغه سرچینه.

دویمه برخه

# د ښځو د بشري حقونو وضعیت



Photo (C) Unsplash - Farid Ershad

طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نه یواځې د تعلیم، کار، آزادانه تګ راتګ او عدالت ته د لاسرسي له حقونو څخه د ښځو د محروموملو لپاره د خپلو تبعیضي سیاستونو پلي کولو ته دوام ورکړی، بلکې په لا سازمان شوي او منظم چلند سره یې دغه تبعیض او محدودیتونه د پام وړ سخت کړي دي. په ځانګړي ډول د امربالمعروف د قانون په پلي کولو سره دغې تبعیضونو لا نور پراخ ابعاد هم موندلي دي. سره له دې، د طالبانو چلند کیدای شي د جنسیتي تعذیب او بشریت ضد جنایت صریح مصداق وګڼل شي.

په راروانو کرښو کې، هغو نویو محدودیتونو باندې په تفصیل سره بحث کیږي چې طالبانو د راپور په دې دوره کې د تعلیم، کار، آزادانه تګ راتګ او عدالت ته د ښځو د لاسرسي په برخو کې لګولي دي.

## د زده کړو پر حق د محدودیتونو سختوالی

د زده کړو حق د وګړو له تر ټولو مهمو حقونو څخه شمېرل کیږي چې د بشر حقونو بین المللي اسنادو په رسمیت پیژندلی او تعلیمي او تحصیلي فرصتونو ته د خلکو د یو ډول او برابر لاسرسي پر اړتیا یې تاکید کړی دی.[35] د یادو اسنادو له مخې، د جنسیت یا نورو دلایلو له مخې له دې حق څخه په برخه منېدو کې هر ډول تبعیض ته قائلېدل له یادو مقرراتو سرغړونه ګڼل کیږي او د بشر حقونو نقض بلل کیږي. سره له دې، طالبانو د ۲۰۲۱ کال له اګست څخه په تدریجي، سازمان شویو او هدفي اقداماتو سره د فرمانونو، احکامو او ډېر شمېر اعلامیو له لارې د افغانستان د ښځو او نجونو د تعلیم حق سلب کړی دی.[36]

د دې راپور موندنې ښیي چې حاکمې ډلې د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نه یواځې د زده کړو حق ته د افغانستان د ښځو او نجونو د لاسرسي په برخه کې له خپلو تبعیضي سیاستونو څخه لاس نه دی اخستی، بلکې دا محدودیتونه یې زیات کړي هم دي. لکه څنګه چې د هیواد په ځینو برخو کې لکه په سویل لویدیځه حوزه کې ښځې د سختو سیاستونو او محدودیتونو له امله حتا د کسب زده کولو په پروګرامونو کې هم له ګډون څخه منعه شوې دي چې دغه پروګرامونه د غیردولتي موسسو له خوا ترسره کیږي. دا مهال یواځې نارینه اجازه لري چې په داسې پروګرامونو کې ګډون وکړي.

**په بادغیس ولایت کې هم، د ښځو لپاره د کسب او حرفې د زده کولو پروګرامونه، لکه د خیاطۍ، ګلدوزۍ او چرمه دوزۍ د زده کړې پروګرامونه ځنډول شوي دي. د امربالمعروف او کار او ټولنیزو چارو اداري د دې تعلیمي مرکزونو د فعالیت جوازونه لغوه کړي او لامل یې په یو ځای کې د ډېرو ښځو راټولېدل او له شرعي محرم پرته د ښځو ګډون ښودلی دی. طالبانو د دې ولایت د خیاطانو د اتحادیې مسئولینو ته خبرداری ورکړی چې د فعالیت د دوام په صورت کې به تر تعقیب لاندې ونیول شي.**

35 . د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۶مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، ۱۳مه ماده.
36 . رواداري، محرومیت او تبعیض: تعلیم ته د افغانستان د ښځو او نجونو د لاسرسي وضعیت، ۷ مخ، ۲۰۲۴ نوامبر. https://rawadari.org/201120241925.htm/

## د نجونو ماشومانو لپاره د حجاب او شرعي محرم مکلفیت

طالبانو له شپږم ټولګي ښکته د نجونو زده کوونکو د پوښاک په ډول باندې سخت محدودیتونه لګولي دي، داسې چې دوی مکلف دي ټیکری او لوی تور کمیس واغوندي او په یو شمېر ولسوالیو کې یې نجونو ماشومانو ته امر کړی چې په ماسک باندې خپل مخ پټ کړي. په بادغیس ولایت کې د سینګار توکو کارول، د نوکانو رنګول، د لویو نوکانو درلودل، د تنګو او رنګه کالیو اغوستل منعه شوي دي. په دې ولایت کې داسې موارد هم شته چې نجونې د رنګه ټیکري یا کالیو په اغوستلو له ناوړه چلند سره مخ شوې دي او کالي یې د ښوونځي د مدیر له خوا څیرل شوي دي.

په کندهار ولایت کې د امربالمعروف اداره له شپږم ټولګي کښته د نجونو زده کوونکو لپاره چې د نهه کلنۍ عمر یې پوره کړی «د محرم کارت» ویشي. یعنې دا نجونې باید له خپلو شرعي محارمو سره ښوونځي ته تګ راتګ وکړي. البته «د محرم کارت» په ټولو هغو ښځو وېشل شوی چې د کار لپاره یا په هر بل دلیل هره ورځ له کورنو بهر وځي.

**په یو بل اقدام کې د طالبانو د امربالمعروف اداره په هلمند ولایت کې یو خصوصي ښوونځي ته ورغلې او د دې ښوونځي مسئولینو ته یې ویلي، دا چې د شپږم ټولګي نجونې ماسک نه اچوي او مخ نه پټوي نو ښځې باید ورته تدریس وکړي. همدا راز، د امربالمعروف مامورینو یو بل خصوصي ښوونځي ته امر کړی چې د نجونو او هلکانو ماشومانو نقلیه وسایط باید سره بیل شي. د دې ولایت په یو شمېر ښوونځیو کې هغه نجونې چې نهه کلنۍ ته رسېدلې دي، که له شپږم ټولګي ښکته هم وي، ښوونځي ته د تلو اجازه نه لري؛ ځکه طالبان وايي چې د حنفي فقه پر بنسټ، د نجونو بلوغ له ۹ کلنۍ څخه پیلیږي.**

له بل پلوه، د ۲۰۲۵ کال په مارچ میاشت کې د نوي تعلیمي کال په لومړۍ ورځ، د غزني ولایت په مرکز کې هغه نجونې چې له شپږم ټولګي کښته دي او لوړ قد او اندام ولري درسي ټولګیو ته له ننوتلو راګرځول شوې دي او طالبانو ورته ویلي چې د زده کړو د دوام لپاره دې دیني مدرسو ته لاړې شي. همدا راز، د دې ولایت په یو شمېر ښوونځیو کې د نجونو زده کوونکو تذکرې ګوري چې داډ ترلاسه کړي له نهه کالو زیات عمر خو به نه لري. دا محدودیت چې اوس د ځینو ولایتونو په ښوونځیو کې عملاً اجرا کیږي د تعلیم له حق څخه د نجونو زده کوونکو د لا ډېر او پراخ محرومیت خطر له ځان سره لري؛ ځکه په افغانستان کې ماشومان ښوونځی له اووه کلنۍ څخه پیلوي او د امربالمعروف اداري د دې تصمیم پر بنسټ، نجونې یواځې د ښوونځي تر دریېم ټولګي د زده کړو د دوام امکان مومي.

## ښځو ته د تعلیمي خدمتونو وړاندې کولو له امله د ښوونکو نیول

**د دې راپور د موندنو پر بنسټ، طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کم تر کمه ۹ خصوصي ښوونځي، ۴۱ د انګلیسي ژبې د زده کړې ټولګي او ۵ د کمپیوټر د زده کړې ټولګي چې په پټه یې نجونو ته زده کړې ورکولې، تړلي دي او کم تر کمه د ۵ ښځو په ګډون یې ۱۱ ښوونکي نیولي دي.**

همدا راز، د ۲۰۲۵ کال په اپرېل میاشت کې د طالبانو د امربالمعروف اداري په پکتیکا ولایت کې ۲۶۷ ښوونیز ټولګي چې د کم عمره نجونو اړوند و او د یوې غیر دولتي موسسې له خوا یې ملاتړ کېده، وتړل. په دې ښوونیزو ټولګیو کې ۱۱ زره او ۸۰۰ نجونو زده کوونکو درس لوست.

د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۲۷مه طالبانو ۴۶ د انګلیسي او کمپیوټر د زده کړو ټولګي په بامیان ولایت کې تړلي دي، د درسي وسایلو او تجهیزاتو د ضبطولو تر څنګ یې د ۴ ښځینه ښوونکو په ګډون ۶ تنه نیولي دي. پر دې خلکو تور دا و چې نجونو ته یې تعلیمي خدمتونو وړاندې کول. همدا راز، د هرات ولایت په غوریان ولسوالۍ کې یوې خیریه ټولنې چې په پټه یې ښځو او نجونو ته د انګلیسي ژبې زده کړه ورکوله، د امربالمعروف اداري له خوا په نښه او تعلیمي مرکز یې وتړل شو. طالبانو د دې تعلیمي مرکز مسئولینو ته خبرداری ورکړی چې بیا فعالیت ونکړي.

**همدا راز، د هرات ولایت په جبریل ښارګوټي کې یوه ښوونکې، چې له مکتبه محرومو ۳۰ تنو ښځو او نجونو ته یې درسي مضامین تدریسول، د امربالمعروف او استخباراتو د ادارو له خوا په نښه او ونیول شوه. دا ښځه د سیمې د مشرانو په ضمانت چې خپل تعلیمي مرکز به تړي، پینځه ساعته وروسته خوشې شوه. په غزني ولایت کې هم د انګلیسي ژبې یو تعلیمي مرکز او یو د خطاطۍ او رسامۍ مرکز ښځو ته د تعلیمي خدماتو وړاندې کولو له امله وتړل شو. طالبانو د دې دوو تعلیمي مرکزونو مسئولین له یو تر ۶ ساعتونو پورې له ځان سره وساتل.**

همهاله، د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر ۱۶مه نېټه طالبانو د انګلیسي ژبې د زده کړې د یو کورس ولایتي مسئول په دایکندي ولایت کې د عسویت د تبلیغ په تور ونیو او د یو کال بند په سزا یې محکوم کړ. د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ پر ۲۴مه نېټه د طالبانو د استخباراتو اداري یو بل ښوونکی په کابل ښار کې ونیو او نامعلوم ځای ته یې ولېږداوه. د هغه تور له ښوونځي څخه محرومو نجونو ماشومانو ته تدریس کول ؤ.

**سربېره پر دې، د امربالمعروف اداري هغه ښځې په نښه کړي دي چې له ښوونځي او پوهنتون څخه محرومو نجونو ته یې د کورني ښوونکي او استاد په توګه درس ورکاوه، او د دې کار د دوام په صورت کې یې خبرداری ورکړی دی. لکه څنګه چې د کندهار په حوزه کې دوو ښځو چې په خصوصي توګه د کورنیو ښوونکو په توګه د نجونو کورونو ته ورتلې د امربالمعروف اداري له خوا په نښه او د دې کار له دوام څخه منعه شوې. د امربالمعروف مامورینو د دې ښوونکو له پلرونو تضمین اخستی چې که په راتلونکي کې به خپلو لوڼو ته د دا ډول کار اجازه نه ورکوي.**

د ۲۰۲۵ کال له په لومړیو شپږو میاشتو کې د نجونو زده کوونکو د ځورولو موارد هم شته. له هلمند ولایت څخه یو مرکه شوي رواداري ته ویلي: «دوه زده کوونکې نجونې چې د ۹ کلونو شاوخوا عمر لري، د دې کال په مارچ میاشت کې کله چې له کورونو پلې د ښوونځي پر خوا تلې د دوو طالبانو له خوا توهین او تحقیر شوې. طالبانو دې نجونو ته ویل چې نور باید ښوونځي ته لاړې نشي، دا چې دا نجونې ډېرې وېرېدلې وې، بېرته خپلو کورونو ته ستنې شوې.»

**له نیمروز ولایت څخه یو بل مرکه شوي ویلي: «د امربالمعروف د اداري مامورینو د یو ښوونیز کورس زده کوونکي په لاره کې څورول. له هغوی یې پوښتل چې ولې هره ورځ په یوه لاره ځي او ولې یواځې له کوره راوځي.» همداراز، له پروان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي: «د دې کال په مې میاشت کې دوو محجبو ښځو نجونې زده کوونکې په لاره کې ودرولې او هغوی نه یې د دیني مسایلو په اړه پوښتنې کولې. کومو نجونو چې نشول کولای دې پوښتنو ته سم ځواب ورکړي، توهینېدې او تحقیرېدې.**

## د کار له حق څخه د محرومیت دوام

د کار حق ته برابر لاسرسی او منصفانه شغلي شرایط د هر وګړي له انساني حقونو څخه دي، چې د بشر حقونو په ډېری اسنادو کې تضمین شوي دي. پر همدې دلیل، له دې حق څخه په برخه منېدو کې هر ډول تبعیض او د جنسیت او قوم، مذهب او ژبې پر بنسټ هر ډول استثنا ته قائلېدل د قانون له مخې منعه دي او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي.[۳۷]

سره له دې، د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو د کار اړوند، تبعیضي شرایطو رامنځته کولو او محدودیتونولګولو او تعقیبولو ته دوام ورکړی دی.

**د ترلاسه شویو معلوماتو پر بنسټ، طالبانو په ډېری ولایتونو کې په تعلیمي او روغتیایي برخو کې د ښځو د کار دوام له شرعي محارمو درلودلو سره مشروط کړی دی. دې وضعیت په دې برخو کې بوختو ښځو ته جدي ستونزې او ننګونې رامنځته کړې دي. له کندهار حوزې څخه د یو غیر دولتي بنسټ مسئول رواداري ته ویلي : «هغه ښځې چې په روغتیایي برخه کې مورِ سره کار کوي باید شرعي محرم ولري. طالبان پر دې ښځو باندې «د محرم کارتونه» ویشي خو کله چې یې نارینه د ترلاسه کولو لپاره مراجعه کوي، له توهین او تحقیر سره مخامخیږي. طالبان دوی ته وایي، تاسو څنګه نارینه یئ چې ښځې مو کار کوي؟ څومره بې غیرته یاست چې خپلو ښځو ته له کوره بهر د کارکولو اجازه ورکوئ.» سره له دې، د لوېې رېرې، پګړۍ او د طالبانو د خوښې لباس درلودل د شرعي محارمو له شرایطو څخه دي او د امربالمعروف اداره هغو نارینه وو ته چې رېره یې لنډه وي یا یې پوښاک مناسب نه وي «د محرم کارت» نه ورکوي.**

په کار د بوختو ښځو لپاره د شرعي محرم درلودلو مکلفیت، د دوی لپاره جدي ننګونې او ستونزې رامنځته کړې دي. لکه څنګه چې په دې برخه کې یوې ښوونکې له هلمند ولایت څه رواداري ته ویلي چې: «د امربالمعروف اداري په ابتدائیه ښوونځیو کې ټولو ښځینه کارکوونکو او ښوونکو ته اعلان کړی چې په ښوونځیو کې د شرعي محرم له درلودلو پرته د

37 . د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق، ۶ او ۷ مواد.

حاضرېدو حق نه لري.» د روغتیایي خدماتو وړاندې کوونکې موسسې هم محرم نه درلودونکې ښځې نه استخداموي. د بېلګې په توګه په پروان ولایت کې یوې موسسې چې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۲۷مه نېټه یې په پنځو ولسوالیو کې رقابتي ازموینه جوړه کړې وه، یواځې هغه ښځینه داوطلبانې یې انتخاب کړې دي چې شرعي محارم یې درلودل. په هرات ولایت کې ښځې د واکسیناتورۍ له بست څخه د شرعي محرم نه درلودلو له امله ګوښه شوې دي.

**همدا راز، معلومات ښيي، هغو ښځو چې په روغتیایي او تعلیمي برخو کې کار کاوه، خو شرعي محرم یې نه درلود، د طالبانو له خوا شړل شوې دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ پر ۱۲مه نېټه په غور ولایت کې د یوې داخلي موسسې یوه ښځینه کارکوونکې د محرم نه درلودلو له امله د طالبانو له خوا له دندې وشړل شوه. هغه د خپلې کورنۍ یواځنۍ سرپرسته او روزي ګټونکې وه چې د محرم نه درلودلو له امله له دندې ګوښه شوه. همدا راز، په بادغیس ولایت کې طالبانو څو قابلې او نرسانې د محرم نه درلودلو له امله له دندو شړلې دي.**

په نیمروز، کندهار، هلمند، زابل او ارزګان ولایتونو کې د کار او ټولنیزو چارو ادارو اعلان کړی چې د وړو سوداګریو او د کسب و کار د زده کړې پروګرامونو کې ښځو ته جواز نه ورکوي، او ښځې باید کار جواز د خپلې کورنۍ د یو نارینه غړي په نوم واخلي.

د بین المللي مرستو کموالی، لکه د امریکا د متحده ایالاتو د پراختیایي پروژو ځنډېدل او د یو شمېر موسسو د فعالیت درېدل هم د دې سبب شوی چې په ټول هیواد کې ډېرو ښځو خپل کارونه له لاسه ورکړې دي. دا ښځې په روغتیایي برخو، میندواورو ښځو ته د مشورو وروکولو لپاره د مشاورې، د سو تغذي ماشومانو لپاره د موادو وېشلو، پولیو واکسین او د ښځو او ماشومانو لپاره په ملاتړیزو پروګرامونو کې په کار بوختې وې.

## روغتیایي او درملیزو خدماتو ته محدود لاسرسی

بین المللي بېلابېلو اسنادو او معاهداتو روغتیایي خدمتونو او مراقبتونو ته لاسرسی د یو بشري حق په توګه د ټولو وګړو لپاره په رسمیت پېژندلی او تضمین کړی دی. له دې حق څخه په قصدي ډول د وګړو محرومول، په ځانګړې ډول د جنسیت پر بنسټ یا د نورو تبعیضي دلایلو له امله د قانون له مخې منعه دي، او د بشر حقونو نقض ګڼل کیږي. د همدې له مخې، ژمن دولتونه باید دې خدمتونو ته د هیوادوالو د لاسرسي د اسانتیا لپاره لازم اقدامات او تیاری ونیسي.[38]

سره له دې د څېړنو موندنې ښيي چې د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمايي کې روغتیایي درملیزو خدمتونو ته د ښځو د لاسرسي شرایط د طالبانو له خوا د پلي شویو محدودوونکو او تبعیضي سیاستونو له امله، لا خراب شوي دي. په دې محدودیتونو کې پر ښځو باندې د محرم درلودلو او د طالبانو د پام وړ حجاب رعایتولو مکلفیتونه هم راځي چې باید د هغو ښځو له خوا چې په روغتیایي مرکزونو کې په دندو بوختې دي او د هغو ښځو له خوا چې دې مرکزونو ته د خدماتو ترلاسه کولو لپاره مراجعه کوي، رعایت شي. د امربالمعروف مامورین په پرله پسې توګه د روغتونونو او نورو روغتیایي او معالجوي مرکزونو څارنه کوي او د دې محدودیتونو پلي کېدل څاري.

38 . د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۵مه ماده. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي میثاق ۱۲مه ماده.

پر همدې دلیل، یو شمېر ښځینه ډاکټرانې او نرسانې د دندو پرېښودو ته اړ شوې دي او یو شمېر نورې هڅه کوي په خپلو کورونو کې د شخصي معاینه خانو په جوړولو د امربالمعروف د بې ځایه څارنې او فشارونو څخه ځان لرې کړي. طالبانو همدا راز د روغتیایي مرکزونو ښځینه او نارینه برخې په بشپړه توګه له یو بل څخه بېلې کړې دي اجازه نه ورکوي چې د روغتون په یوه برخه کې یوځای کار سره وکړي.

په کندهار ولایت کې طالبانو د رواني روغتیا د مشاورانو د ټولو بستونو د لغوه کولو تر څنګ اعلان کړی، هغه ښځې چې د روغتیایي خدمتونو ترلاسه کولو لپاره روغتونونو او روغتیایي مرکزونو ته مراجعه کوي باید شرعي محرم ولري. د سنګین ولسوالی، مارجې ولسوالی او د لښکرګاه ښار کارته لګان کلنیک کې بې محرمه ښځې نه تداوي کوي. په غزني ولایت کې هم دوه ولایتي او حوزوي روغتونونه د محرم نه درلودونکو ښځو لپاره روغتیایي خدمات نه وړاندې کوي. د امربالمعروف کارکوونکي په منظم ډول او په اونۍ کې دري تر څلورو ځلو د دې ولایت د روغتیایي مرکزونو څارنه کوي چې د حجاب او د پوښاک د ډول اړوند د محدودیتونو د پلي کېدو څارنه وکړي. همدا راز، په غور ولایت کې روغتیایي مرکزونه هم د شرعي محرم نه درلودونکو ښځو له معالجې څخه ډډه کوي.
په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستیال پلاوي یوناما هم په یو راپور کې ویلي چې د امربالمعروف محتسبین روغتیایي کلنیکونو، دوکانوو، بازارونو، دولتي دفترونو، او ټیکسي چلوونکو ته امر کړی چې محرم نه درلودونکو ښځو ته خدمات وړاندې نه کړي. [۳۹]

## د مرکه شویو روایتونه

## له غزني ولایت څخه یوې مرکه شوې ښځې ویلي: «خاوند مې ایران ته تللی، یوه ورځ مې لس کلن زوی چې سخته تبه یې وه او کانګې یې کولې، روغتون ته بوتلو. د امربالمعروف کارکوونکي څارنې ته راغلي ؤ، او کله چې یې ولیدل زه محرم نه لرم، اجازه یې رانکړه چې روغتون ته ننوځم. ویل یې لاړه شه له خاوند یا ورور سره دې راشه. خپل وضعیت مې ورته بیان کړ او و مې ویل چې خاوند مې د کار لپاره ایران ته تللی، ځواب یې راکړ، خاوند دې بې غیرته دی چې ته یې یواځې پرېښې یې او ایران ته تللی. په ناهیلی له هغې ځایه راوګرځېدم او یو خصوصي روغتون ته لاړم.»

له پروان ولایت څخه یوې مرکه شوې ښځې ویلي، د ۲۰۲۵ کال د می پر ۲۳مه کله چې یې د تداوۍ لپاره ډاکټر ته مراجعه کړې، د محرم نه درلودلو له امله یې اجازه نه ده ورکړې. دې مرکه شوې ښځې ویلي چې له ۵۰ کلونو زیات عمر لري  او یواځنی زوی یې د کار لپاره ایران ته مهاجر شوی. هغه وایي: «ډاکټر ته مې زاری وکړې چې معاینه مې کړي خو غوسه شو او په لوړ غږ یې وویل محرم دې چېرې دی، د بې محرمه ښځو د معاینې له امله د امربالمعروف اداري زما معاینه خانه تړلې وه.»

له دې ولایت څخه بل مرکه شوې معلومات ورکړي دي، چې د امربالمعروف مامورین کله په ناپېژاندي ډول د روغتیایي مرکزونو د مراجعینو په منځ کې ګرځي او هغه کسان چې ظاهر او د پوښاک ډول یې د دې اداري د پام وړ معیارونو باندې برابر نه وي توهینوي او تحقیروي یې. هغه همدا راز وویل: «په پروان ولایت کې د امربالمعروف اداري تاکید کړی، چې

39 د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت: د اپرېل-جون تازه راپور ۲۰۲۵، ۲ مخ. https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0

نارینه ډاکټران د محرم نه درلودونکو نجونو او ښځو د تداوۍ اجازه نه لري. ښځې ډاکټرانې دي د رنګه لباسونو له اغوستلو څخه، چې پام ځان ته واړوي، ډډه وکړي، خپل مخ دې په ماسک پټ کړي او د کار ځای ته د تلو راتلو پر مهال دې له چادري څخه کټه واخلي.»

د طالبانو له خوا وضعه شویو محدودیتونو ته په پام سره او هم د یو شمېر غیردولتي موسسو د فعالیتونو درېدو ته په کتو، لکه څنګه چې وویل شول، په روغتیايي او درملیزو برخو کې د ښځینه کارکوونکو شمېر، په ځانګړي ډول د هیواد په لرې پرتو ولسوالیو او سیمو کې، کم شوی دی. په همدې دلیل، دا مهال ډېری ولادتونه په کورونو کې کیږي؛ ځکه په روغتیايي مرکزونو کې نسايي ولادي برخې د ښځینه ډاکټرانو او نرسانو د نشتوالي له امله تړل شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د میندوارۍ د وقایې لپاره د اړوندو مراقبتونو درمل د هیواد په بېلابېلو برخو کې محدود شوي دي، ځکه چې طالبان ماشومان زیږول هڅوي، او د ولادت مخنیوی د اسلامي موازینو خلاف اقدام تعبیروي.

## د آزادانه تګ راتګ د حق نقض

د آزادانه تګ راتګ حق د بشر حقونو له خورا مهمو مصادقو څخه ګڼل کیږي او دا تضمینوي چې هر وګړی وکولای شي له نه توجیه کیدونکو او تبعیضي محدودیتونو پرته، د هیواد په داخل کې یا له هیواده بهر تګ راتګ وکړي او خپل د استوګنې ځای په آزاده توګه وټاکي.[40] د بین المللي معاهدو غړي دولتونه دنده لري چې له هر ډول تبعیضي اقداماتو څخه د ډډې کولو تر څنګ، د آزادانه تګ راتګ په برخه کې د ښځو حقونه له نارینه ؤ سره په برابر ډول تضمین او ملاتړ یې وکړي.[41]

سره له دې، طالبانو واک ته د راستنېدو له مهاله د ښځو د آزادانه تګ راتګ حق په پراخه توګه محدود کړی دی، او په ځانګړي ډول د امربالمعروف د قانون له خپرولو وروسته دغه محدودیتونه لا زیات شوي او منظم شوي دي. لکه څنګه چې دا مهال د هیواد په ډېری برخو کې ښځې حتا د حجاب او شرعي محرم په لرلو سره هم تفریحي، ورزشي ځایونو، زیارتونو، پارکونو، د واده سالونونو، پلورنځیو او نورو عمومي ځایونو ته د لاسرسي حق نه لري. د کندهار په حوزه کې ښځې هدیرې، مسجدونو او د شیریخ او آیسکریم دوکانونو ته هم له ورتلو منعه شوې دي.

د محرم نه درلودونکې ښځې نه شي کولای په رستورانتونو کې خواړه وخوري، د حمل و نقل له عمومي وسایلو استفاده وکړي او د هیواد دننه یا بهر سفر وکړي. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، هغه موټر چلوونکي چې محرم نه درلودونکې ښځې خپل موټر ته پورته کړي یا پلورونکي په ښځو څه وپلوري، پوښتنې ګروېږنې ترې کیږي او نیول کیږي. د امربالمعروف قانون د نامحرمو سړیو په مخکې د ښځو خبرې کول منعه کړي دي، حتی که ډاکټر ته د خپلو روغتیايي ستونزو بیانول وي یا په محکمه کې حاضرېدل وي. ځکه د دې قانون له مخې، د ښځو غږ «عورت» او اورېدل یې حرام دي. په بادغیس ولایت کې د یو شمېر مسجدونو خطیبان په پرله پسې توګه په بېلابېلو مذهبي مناسبتونو کې تبلیغ کوي چې په عمومي ځایونو کې د ښځو ګډون د شریعت له مخې منعه او حرام دی.

40 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۲مه ماده.

41 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، ښځو سره د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون، (۱۸ ډسامبر ۱۹۷۹)، ۱۵مه ماده.

د امربالمعروف مامورینو په سویل لویدیځه حوزه کې، هغه ښځې چې پلورنځیو ته د اړینو توکو د پېرلو لپاره ورغلې وې، توهین او تحقیر کړې دي، او یو شمېر یې نیولې دي. د بېلګې په توګه د ۲۰۲۵ کال په فبروري میاشت کې له دې حوزې څخه یوې سپین سرې ښځې چې د لومړنیو توکو د پېرلو لپاره ښار ته تللې وه، د طالبانو له خوا ونیول شوه او مخامخ عمومي زندان ته ولېږدول شوه. یوناما هم په یو راپور کې ویلي چې د حاکمو مقاماتو له تفسیر سره سم د اسلامي حجاب نه رعایتولو له امله د تلاشۍ په ځایونو کې د ښځو د ځورولو او وهلو ټکلو پېښې، اوله محرم پرته د سودا اخستلو لپاره له بازار څخه کور ته د ستنېدو پر مهال دا ډول پېښې یې مستندې کړې دي.[٤٢]

همدا راز، طالبانو په کندهار، زابل، هلمند، او ارزګان ولایتونو کې ښځې د واده سالونونو ته له ورتلو منعه کړې دي او لامل یې «نامناسب چاپېریال او د خوړو د وېش پر مهال د نارینه وو حضور» یاد شوی دی. که څه هم دا موضوع د ودونو د سالونونو د مالکانو له اعتراض سره مخامخ شوه، خو د امربالمعروف ادارې د دې سالونونو بېرته پرانستل د ښځو د ګډون لپاره د پام وړ شرایطو برابرولو سره مشروط کړي دي.

سربېره پر دې، په کندهار کې د طالبانو والي، له څو دولتي ادارو څخه د یو تشکیل شوي کمیسیون په رامنځته کولو، د یوې سیمې ښځې چې د څښلو د اوبو له کمښت سره مخ دي او معمولاً اوبه په پیسو اخلي، د کالیو، غالیو او نورو د کور لوازمو د پرېمنځلو لپاره د اوبو ویالې ته له تللو منعه کړې دي.

### د مرکه شویو روایتونه

**د هلمند له موسی کلا ولسوالۍ څخه یو مرکه شوي ویلي چې طالبانو څو ځل اعلان وکړ چې ښځې د ولسوالۍ ښځینه مارکیټ ته د تلو اجازه نه لري. خو خلکو یې مخالفت وکړ او تاکید یې وکړ چې د دوی د کورونو ښځې کولای شي له دې مارکیټ څخه خپل د اړتیا وړ توکي او لوازم وپیري. بالاخره طالبانو د دې مارکیټ دروازه وترله او ښځې یې په بشپړه توګه دې مارکیټ ته له لاسرسي څخه محرومې کړې. د دې ولایت په سنګین ولسوالۍ کې هم ښځې ښار ته د تلو او توکو پېرلو اجاز نه لري. همداراز، د امربالمعروف مامورین په لښکرګاه ښار کې د ښځینه مارکیټ څارنه کوي، او که ښځې د دوی د پام وړ حجاب و نه لري، یا له پلورونکو او دوکاندارانو سره خبرې وکړي، بې له ځنډه نیول کیږي.**

له نیمروز ولایت څخه یوې مرکه شوې ښځې ویلي: «کله مې چې خاوند سره د تحصیلي اسنادو ترلاسه کولو لپاره د طالبانو معارف ریاست ته ورغلو، مورږ ته یې د ننوتلو اجازه رانکړه، او و یې ویل چې د ادارې په انګړ کې انتظار شوو. کله چې مې خاوند اداري ته دننه ورغلی و، یو وسله وال طالب له سپکاوي په ډکه لهجه ورته ویلي ؤ، عاجزه ولې دننه راغلې ژر بهر ووځه.»

له پروان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي چې: «کله چې ښځې له کوره بهر ځي د ماسک کارول ورته اړین دي، خو د سختې ګرمۍ له امله کله ماسک له مخ نه لویږي او همدا له ښځو سره د امربالمعروف ادارې د مامورینو د سپکوونکې چلند لامل کیږي» هغه وایي چې یوې د منځنې عمر ښځې په بازار کې د سودا پر مهال، د ګرمۍ او تنفسي ستونزې له امله مخ په ماسک نه و پټ کړی، چې د امربالمعروف د محتسبینو له خوا له تاوتریخجن چلند سره مخامخ شوه. محتسبینو هغې

42 . د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی، د امن سرپناه نشتوالی: هغه خلک چې په غیرداوطلبانه توګه افغانستان ته ستانه شوي دي له حقوق بشري خطرونو سره مخامخ دي، ۲۰۲۵ جولای، ۸ مخ. https://unama.unmissions.org/human-rights-monitoring-and-reporting-0

ته خبرداری ورکړ چې له دې وروسته په عمومي ځایونو کې مخ په ماسک پټ کړي.

**همدا راز، له بدخشان ولایت څخه یو مرکه شوي ویلي کله چې د تفریح لپاره له خپلې مېرمنې سره شهدا ولسوالۍ ته تلل، د امربالمعروف د مامورینو له خوا ودرول شول، او ترې وغوښتل شول چې مېرمن یې له موټره ښکته شي، ځکه ښځې د تفریح ځایونو ته د تلو اجازه نه لري. بالاخره دوی او یو شمېر نورې کورنۍ اړ شوې چې بېرته خپلو کورونو ته وګرځي.**

د ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۳مه نېټه په بامیان ولایت کې طالبانو یوه نجلۍ زده کوونکې د حجاب نه درلودلو په تور ونیوله. هغې ویلي چې: «په بازار کې وم او چادري مې نه درلوده خو ټیکری او لوی کمیس مې اغوستی و، چې د امربالمعروف اداري د مامورینو موټر مې تر څنګ ودرېد. درې نارینه ترې ښکته شول، یو یې په لوړ غږ وویل، ولې دې مخ لوڅ دی، شرم نه لرې؟ هڅه مې وکړه چې سپیناوی وکړم، خو پاملرنه یې ونکړه، زه یې په زور موټر ته پورته کړم او د امربالمعروف اداري ته یې یوړم، پلار مې یې راوغوښت او ګواښ یې ورته وکړ چې که بیا په عمومي ځایونو کې په دې ډول راښکاره شې، بیا دې نیسم او په دُرو دې وهم. له هغې وروسته چې له پلاره مې یې لیکلې ژمنه واخسته زه یې خوشې کړم.»

**له غزني ولایت څخه بل مرکه شوي داسې روایت کړی: «دوه اونۍ مخکې مې یو خپلوان د ولایت په مرکز کې له خپلې مېرمنې سره د سودا لپاره ښار ته تللی و، چې د امربالمعروف د مامورینو له خوا د مېرمنې د بدحجابۍ په تور توهین او تحقیر شو او ونیول شو. د سیمې خلکو د امربالمعروف مامورینو ته ډېرې زارۍ وکړې چې هغه خوشې کړي؛ خو هغوی هیڅ توجه ونکړه او هغه یې بندي کړ. زه له دوه نورو کسانو سره د هغه د ضمانت او خوشې کولو لپاره د امربالمعروف اداري ته ورغلم، خو له دې امله چې یو ملګري مې لنډه ږیره درلوده د امربالمعروف اداري د کارکوونکو له خوا توهین او تحقیر شو او ضمانت یې و نه منل شو. دا کس په سبا د درې ضمانت لیکونو په ورکولو له زندانه خوشې شو.»**



Photo (C) Alamy - Imago

## عدالت ته د لاسرسي نشتوالی

د بشر حقونو بين المللي اسناد د ټولو خلکو له حقونو، که ښځې دي که نارينه، خپلواکو او بې پرې محکمو ته د لاسرسي، مدافع وکيل ته د لاسرسي او د عادلانه محاکمې د نورو موازينو ملاتړ کوي.[43] د هر دولت تبعيض د له منځه وړلو بين المللي کنوانسيون غړي دولتونه مکلف کړي چې د قانوني او اجرايي تدابيرو په نيولو، عدالت، قانوني ملاتړونو، محکمو او قضايي محکمو ته د ښځو برابر لاسرسی تضمين کړي، چې شکايتونو ته يې رسيدګي وشي او او حقونه يې تضمين کړي.[44]

سره له دې، طالبانو په تېرو څلورو کلونو کې د ښځو د ملاتړ حقوقي چوکاټونه له منځه وړي، او د ډېر شمېر فرمانونو په صادرولو يې عدالت ته د دوی د لاسرسي زمينه او امکان سخت محدود کړی دی. پر همدې بنسټ، دا مهال نه يواځې د تاوتريخوالي او د بشر حقونو د نقض د قرباني ښځو شکايتونو ته د رسېدو لپاره اغېزناک حقوقي ميکانيزم نشته، بلکې شته سختو شرايطواو د طالبانو د عدلي او قضايي بنسټونو تبعيضي چلند ته په پام سره، ښځې دوه چنده متضررې کيږي، او په دې ترتيب د تپل شويو ظلمونو او تاوتريخوالو ډېری برخه له هر ډول تعقيب او قانوني رسېدنې پرته پاتې کيږي. دا وضعيت ښځو سره د تاوتريخوالي د څرخ د دوام او د هغوی د بنسټيزو حقونو د نقض سبب شوی دی.

همدا راز، د دې راپور موندنې ښيي چې د «امربالمعروف او نهی عن المنکر» په نوم د قانون پلي کولو په دې برخه کې تبعيض سخت کړی، او عدالت ته د ښځو د لاسرسي امکان يې لا محدود کړی او په ډېرى مواردو کې يې ناممکن کړی دی. د حاکمو مقاماتو د عدلي او قضايي بنسټونو د کارکوونکو په منځ کې د مسلکي تخصص او تجربې نشتوالی او جزايي او حقوقي قضيو ته په رسيدو کې لوی ځنډ وضعيت لا کړکېچن کړی دی.

## ښځو سره د تاوتريخوالي پېښو ته نه رسېدل

د طالبانو قاضيان باور لري چې ښځې بايد له خپلو مېړونو څخه د تاوتريخوالي له امله شکايت و نکړي، او په باور يې په محکمو کې ښځو سره د تاوتريخوالي اړوند شکايتونو ته رسېدنه د جمهوريت د دورې ميراث او د کورنۍ د پاشل کېدو لامل دی.[45] پر همدې دليل د طلبانو عدلي او قضايي بنسټونه، د تاوتريخوالي د قرباني ښځو شکايت، په ځانګړې ډول د طلاق او جدايۍ د غوښتنې اړوند، نه مني. سره له دې ښځو سره د تاوتريخوالي اړوند ډېری شکايتونه د غيرقضايي ميکانيزمونو له لارې او معمولاً د مرتکبانو په ګټه حل و فصل کيږي.

**له بل پلوه، د امربالمعروف د قانون پر بنسټ، ښځې نشي کولای په مستقيمه توګه او د خپل يو شرعي محرم له ملتيا پرته، د شکايت د ثبت او عدلي او قضايي بنسټونو ته د عدالت غوښتني لپاره مراجعه وکړي. که ښځې په دې امر عمل ونکړي نه يواځې دا چې شکايت ته يې هيڅ پام نه کيږي، بلکې له سپکوونکي، تاوتريخجن او ناوړه چلند سره هم مخامخ کيږي.[46] د همدې له مخې، د تاوتريخوالي قربانيان د تحقير، توهين او د باور د نشتوالي له امله دې بنسټونو ته مراجعه نه کوی او د تاوتريخوالو زغملو ته مجبوريږي.**

43 . د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، ۱۴مه ماده.
44 . ښځو سره د هر ډول تاوتريخوالي د منځه وړلو بين المللي کنوانسيون، ۱۵ او ۱۸ مادې.
45 . رواداري، په ۲۰۲۴ کال کې د بشر حقونو وضعيت، ۳۲ مخ.
46 . هماغه سرچينه، ۳۳ مخ.

د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي راپور ورکوونکي هم په یو راپور کې ویلي چې د طالبانو قاضیان ښځو سره د تاوتریخوالي اړند او د طلاق د غوښتنې اړوند قضیو په اړه ډېری د نرواک لیدلوري له مخې چلند کوي، او قربانیان د خپلو میړونو اطاعت ته هڅوي.[47]

هغه ته په پام سره چې وضاحت یې ورکړل شو، دا مهال نه یواځې په افغانستان کې د تاوتریخوالي قرباني ښځو لپاره عدالت ته د لاسرسي امکان نشته، بلکې د طالبانو محکمې په ځینو مواردو کې د ترسره شویو تاوتریخوالو تر ټولو سختو بڼو ته مشروعیت هم ورکوي. د بېلګې په توګه د هیواد په سویل لویدیځه حوزه کې یو مدافع وکیل رواداري ته ویلي چې: «د ۲۰۲۵ کال په جون میاشت کې یو کس د خپل قرض په بدل کې خپله اووه کلنه لور یو سړي ته په نکاح ورکړه، چې دا سړی له پنځوس کلونو زیات عمر لري. دې قضیې په خواله رسنیو کې ډېر شور جوړ کړ، بالاخره طالبان د دواړو لوریو نیولو ته اړ شول. دا دوسیه وروسته د طالبانو محکمې ته وړاندې شوه او قاضیانو پرېکړه وکړه چې نجلۍ وروسته له هغې چې نهه کلنه شي، دې سړي ته دې په نکاح شي.» د طالبانو د محکمې دا حکم له ټولو حقوق بشري موازینو سره په ټکر کې دی او په ښکاره د قرباني ماشوم انساني کرامت نقضوي، دا ښیي چې د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې ښځو سره د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره عدالت ته لاسرسی په هیڅ ډول امکان نه لري.

**د راټولو شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د طالبانو د امربالمعروف اداره په یو شمېر ولایتونو کې ښځو سره د تاوتریخوالي اړوند ځینو شکایتونو ته رسیدګي کوي. د بېلګې په توګه په میدان وردګ ولایت کې دا ادراه یواځې په هغه صورت کې د قرباني ښځو شکایت ته رسیدګي کوي چې دعوا د قرباني د پلار له خوا د خاوند د کورنۍ پر ضد مطرح شوې وي. په غزني ولایت کې هم د خپلو زامنو د تاوتریخوالي په اړه د میندو شکایت ته رسیدګي کیږي. په پروان ولایت کې دا اداره حادو پېښو ته لکه قتل، وهلو ډبولو او د سخت ټپي کولو اړوند اقدام کوي. سره له دې یادې اداري دوسیو ته د رسیدګۍ د څرنګوالي او د قربانیانو لپاره د عدالت د تامین په برخه کې هیڅ ګزارش او معتبر اطلاعات نه دي خپاره شوي.**

د هغې اداري له خوا د کورنیو تاوتریخوالو اړوند شکایتونو ته د رسیدګۍ ادعا چې د ښځو په ځپلو او د هغوی له بنسټیزو حقونو څخه په انکار کولو کې تر ټولو ډېر نقش لري، یو ښکاره تضاد او تبلیغاتي وسیله ده. ځکه شواهد ښیي چې د امربالمعروف اداري اصلي دنده لکه څنګه چې په عمل کې لیدل کیږي، د سختو مقرراتو پلي کول، په بېلابېلو پلمو د ښځو نیول او بیا هغوی سره ناوړه چلند او تاوتریخوالی دی.

**دې ته په پام سره چې د دې راپور په ډېری برخو کې په افغانستان کې د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو د بشري حقونو د وضعیت اړوند وضاحت ورکړل شو، د امربالمعروف اداري، امنیې قومندانۍ او په ځینو سیمو کې لکه په سویل لویدیځه حوزه کې د علماوو شورا، د اطلاعات و فرهنګ سیمه ییزې اداري، عدلیه او امنیتي بنسټونه د دې هیواد د ښځو او نجونو پر ژوند محدودیت لګولو کې تر ټولو ډېر نقش لري. سربېره پر دې، د حج او اوقافو سیمه ییزې اداري هم د مسجدونو د امامانو له لارې د دې محدودیتونو په تحمیلولو او «د امربالمعروف او نهی عن المنکر» قانون په تبلیغولو کې بنسټیز نقش لري.**

47 . د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمیسارۍ، ځانګړی راپورر، عدالت ته لاسرسی او ښځو او نجونو لپاره ملاتړ او د تبعیض د ډېرو او متقاطعو بڼو اغېز، ۱۱ جون ۲۰۲۵، ۹ مخ، https://www.ohchr.org/en/documents/country-reports/ahrc5925-access-justice-and-protection-women-and-girls-and-impact

درېیمه برخه

# د زیان منونکو قومي او مذهبي ډلو وضعیت



Photo (C) Unsplash - Qasim Mirzaie

د دې راپور موندنې ښيي چې متضرربېدونکې قومي او مذهبي ډلې، په ځينو برخو کې، لکه کاري فرصتونو ته په عادلانه لاسرسي، دولتي خدماتو، بشرپالو مرستو او له ملي سرچينو او امکاناتو څخه په برخه منېدو کې لا هم له تبعيض سره مخامخې دي. شواهد ښيي چې طالبانو د روان کال په لومړۍ نيمايي کې نه يواځې د دې تبعيضونو د له منځه وړلو لپاره کوم اغېزناک اقدام نه دی ترسره کړی، بلکې د فرصتونو، سرچينو او ملي امکاناتو په وېش او د پرمختيايي پروژو په پلي کولو کې يې لا ډېر او پراخ تبعيض کړی دی. همداراز، حاکمې ډلې د راپور په دې دوره کې د مذهبي مناسکو د ترسره کولو پر آزادۍ سخت شرايط وضعه کړي او په يو شمېر ولايتونو کې يې د متفاوتو مذهبي عقيدو د ځپلو او حتا د مذهب بدلولو ته د اقليتونو د اړيستلو اقدام هم کړی دی.

د راپور په دې برخه کې، د سرچينو په ځانګړي کولو او د پرمختيايي پرژو پلي کولو کې، په عادلانه توګه د کاري فرصتونو تامينولو او په دولتي ادارو کې د ګمارنې او په آزاده توګه د مذهبي مناسکو ترسره کولو کې، له متضرربېدونکو قومي او مذهبي ډلو سره د طالبانو چلند په تفصيل سره بيان شوی دی.

## د دولتي خدماتو او پراختيايي پروژو په وړاندې کولو کې له قومي او مذهبي ډلو سره تبعيض

په داسې حال کې چې د بشر حقونو بين المللي اسنادو د نژاد، جنس، ژبې او مذهب له مخې له هر ډول تبعيض څخه د خلکو پر خونديتوب، او په ځانګړي ډول په ټولو مادي او معنوي برخو کې سرچينو او فرصتونو ته پر برابر لاسرسي تاکيد کړی دی.[48] خو د دې راپور موندنې ښيي چې طالبانو متضرربېدونکې قومي او مذهبي ډلې په قصدي ډول او په تبعيضي چلند سره دولتي خدماتو، پراختيايي پروژو، بشرپالو مرستو او ملي سرچينو ته له برابر لاسرسي څخه محروم کړي دي.

په بدخشان ولايت کې، ډېری اسماعيليه مېشتې ولسوالۍ په سيستماتيک ډول انکشافي او ټولګټو پروژو ته له لاسرسي څخه محروم شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د دې پروژو د پام وړ برخه په وردوج ولسوالۍ کې پلې کيږي، چې د دوو لوړ پوړو طالب چارواکو د زيږېدو ځای دی.

**په پروان ولايت کې هم، ورته چاره روانه ده. سرچينې او دولتي خدمتونه په نامتوازنه بڼه داسې سيمو ته ځانګړې شوي چې د جمهوريت پر مهال د طالبانو تر کنټرول لاندې وې. سياه‌ګرد، شينواري او کوه صافي ولسوالۍ هغه سيمې دي چې طالبان ډېرې پراختيايي پروژې او نور مالي ملاتړونه هلته پلي کوي. په غور ولايت کې، طالبانو موسسو ته امر کړی چې پراختيايي پروژې په هغو ولسواليو او سيمو کې پلې کړي چې مخکې د دې ډلې تر کنټرول لاندې وې.**

همداراز، په غزني ولايت کې پراختيايي پروژې لکه د سړکونو، ښوونځيو، کانالونو او د اوبو رسولو د شبکو جوړول په تبعيضي او غير متوازنه بڼه تطبيقيږي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۵ کال په مې مياشت کې، طالبانو د ۶ ميليون امريکايي ډالرو په ارزښت د ۹۸ پراختيايي پروژو د پيل کولو خبر ورکړ، چې د زراعت، مالدارۍ، د چک ډيمونو جوړولو په برخو کې

48 . عمومي ناسته، د ملګرو ملتونو سازمان منشور، (۱۹۴۵)، ۳ بند، لومړۍ ماده، ج بند، ۵۵ ماده او ۹ بند ۳مه ماده. د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، ۱ او ۲ بند، ۲مه ماده.

په درې ډېرې پښتون مېشتو ولسواليو، زنه خان، خوګياڼي او رشيدان کې به په راتلونکو څلورو کلونو کې پلې شي. سره له دې، د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نيمايي کې، يواځې درې پروژې د ۶۴۰۰۰ ډالرو په ارزښت د دې ولايت په شيعه مېشتو او تاجيک مېشتو ولسواليو او سېمو کې پلې شوې دي.

په غزني ولايت کې د طالبانو د کليو د بيا رغونې او پراختيا رياست د يوې خبرپاڼې پر بنسټ، د ۲۰۲۵ کال د فبروري له ۱۴ تر ۱۷مې نېټې په اندړ، ګيلان، قره باغ، آب بند او مقر ولسواليو کې ۹۸۲۰ کورنيو ته نغدي مرستې او خوراکي توکي وېشل شوي دي، چې ۲۹۰۰ افغانۍ نغدې پيسې او د خوراکي توکو کڅوړې وې. د مرستو د دې کڅوړو په ترلاسه کوونکو کې حتا يوه هزاره، تاجيک، بيات يا د نورو قومي او مذهبي اقليتونو کورنۍ نه وه.

## په ګمارنه کې توپيري چلند

د بشر حقونو د بين المللي اسنادو له مخې، د کار د حق تضمين او د عادلانه کاري شرايطو رامنځته کول، کاري امنيت او د قومي، ژبنيو او مذهبي ځانګړتياوو پر بنسټ د دولتي کارمندانو د ګمارلو او ګوښه کولو مخنيوی د ټولو خلکو له بنسټيزو حقونو څخه دي.[49] د دې اسنادو غړي دولتونه دنده لري چې د داخلي قوانينو په جوړولو او تصويبولو او د نورو اقداماتو په ترسره کولو سره د ټولو هيوادوالو لپاره د کار عادلانه شرايط له هر ډول قومي، ژبني او مذهبي تړلتيا پرته برابر کړي.[50] سره له دې، حاکمې ډلې په تېرو څلورو کلونو کې، په دې برخه کې پر خپلو مسئوليتونو عمل نه دی کړی، او د دولتي ادارو د کارمندانو په ګمارلو او ګوښه کولو کې يې تبعيضي چلند کړی دی.

**که څه هم طالبان په دولتي ګمارنو او ټاکنو کې ايډيالوژيکې تړلتياوې، او دې ډلې سره د خلکو د غړيتوب، همکارۍ او وفادارۍ مخينه، پر قومي او مذهبي تړلتياوو پورته ګڼي، او داوطلبان بايد تر استخدامېدو وړاندې د تصفيې د کميسيون  او استخباراتو ادارې له خوا تائيد شي؛ خو د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د رواداري موندنې ښيي چې طالبانو لا هم د متضرربېدونکو قومي او مذهبي ډلو اړوند د کارمندانو حذفولو ته دوام ورکړی دی.**

د روان کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د يو شمېر دولتي ادارو په تشکيلاتي جوړښت کې يو لړ تنقيصات وشول، او ډېرې رسمي بستونه له منځه تللي. دې بدلونونو تر ټولو ډېر اغېز پر لوړوزده کړو وزارت او د هيواد په پوهنتونونو پرېښی دی، او په دې بنسټونو کې د مسلکي او اداري بستونو د پام وړ کموالي لامل شوی. که څه هم د طالبانو دې اقدام واک ته د راستنېدو راهيسې ايډيالوژيک ماهيت درلود او په بېلابېلو ولايتونو کې څرګند و، خو د روان کال په لومړۍ نيمايي کې د علمي پلاوي او اداري کارمندانو تنقيص په ځينو پوهنتونونو کې په ځانګړې ډول، په کابل او پنجشېر او باميان ولايتونو کې پر متضرربېدونکو قومي او مذهبي ډلو اغېز کړی دی.

همدارازه، په غزني ولايت کې په وروستيو تنقيصاتو کې، د بيات، تاجيک او هزاره قومي ډلو اړوندو کارمندانو بستونه له دولتي ادارو څخه حذف شوي دي. د بېلګې په توګه د اطلاعات و فرهنګ د سيمه ييزې ادارې په تشکيلاتي جوړښت کې، د تاجيک کارمندانو اړوند ۶ بستونه او يو هزاره کارمند حذف شوي دي. همدارزا، د دې ولايت د امنيې قمندانۍ

49 . د بشر حقونو نړيواله اعلاميه، ۲۳مه ماده. د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو بين المللي ميثاق، ۶، ۷ او ۸ مادې.
50 . د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو بين المللي ميثاق، ۷مه ماده.

په تشکیلاتو کې ۶ هزاره کارمندان او ۳ تاجیک کارمندان ګوښه شوي دي. د طالبانو والي په دې ولایت کې هم ۷ تنه تاجیک، بیات او هزاره کارمندان مستقیماً ګوښه کړي دي. له دې کارمندانو څخه یو یې ویلي چې پخپله والي حذف شوي بستونه په مشخص ډول د دې درې قومي ډلو له منځه ټاکلي دي. په دې کې یواځې یو کارمند ګوښه شوی چې مخکې یې د مدیریت په بست کې کار کاوه، او په ډېر ټینګار کولو سره په اووم بست کې د موټر چلوونکي په توګه استخدام شو.

**له نیمروز ولایت څخه مرکه شویو ویلي چې طالبانو په تبعیضي چلند سره قومي او مذهبي اقلیتونه څنډې ته کړي دي، کاري فرصتونه او په ځانګړي ډول د سرحدونو سوداګري یې خپلو قومونو او خپلوانو ته ځانګړې کړې، او د ګمرکاتو په بستونو کې نور کارمندان نه استخداموي. له دې ولایت څخه یوې سرچینې ویلي، چې د دولتي ادارو داسې کارمندان پیژني چې د ګوښه کېدو له وېرې یې حتا خپل مذهب او ژبه هم بدله کړې ده. په بدخشان ولایت کې هم طالبانو د دولتي ادارو له تشکیلاتي جوړښت څخه د اقلیتونو اړوند کارمندانو په ګوښه کولو، د ګمارنې بهیر، د قومي او مذهبي ترلتیاوو پر بنسټ مدیریت کوي.**

## پر مذهبي آزادیو د محدودیت لګول

د هغه څه پر بنسټ چې د بشر حقونو په اسنادو او معاهدو کې راغلي دي، مذهبي آزادي د دیني تعلیماتو او مراسمو د آزادۍ تضمینوونکې ده.[51] د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، په فردي او جمعي توګه، په ښکاره او په پټه د مذهب یا معتقداتو د څرګندولو آزادي او د عباداتو، آدابو، اعمالو او مذهبي تعلیماتو آزادي په رسمیت پېژندلې ده.[52] همدا راز، په یاد سند کې راغلي چې په نژادي، قومي او دیني اقلیتونو پورې اړوند اشخاص حق لري په خصوصي یا عمومي توګه، په آزادانه ډول او له هر ډول مداخلې او تبعیض پرته، له خپل ځانګړي فرهنګ څخه برخه من اوسي، پر خپل دین اعتراف وکړي، عمل پرې وکړي او خپله ځانګړې ژبه وکاروي.[53]

سره له دې، د رواداري د څېړنو موندنې ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د مذهبي آزادیو ځپلو ته دوام ورکړی او د دیني اقلیتونو د دیني مناسکو پر اجرا کولو یې پراخ محدودیتونه لګولي دي. د بېلګې په توګه هغوی د شیعه‌ګانو د مذهبي مراسمو په ترسره کولو کې د محرم په لسیزه کې، د هیواد په بېلابېلو برخو کې، لکه کابل ښار، او هرات، غزني، پروان، نیمروز، غور او بامیان ولایتونو کې د ماتم کولو بیرغونه او نور سمبولونه له ښارونو ټول کړي، او د نذر او خوړو د وېش ځایونه یې نړولي دي.

طالبانو په هرات ولایت کې هم د مسجدونو یو شمېر مسئولین د لنډ وخت لپاره ونیول. په غزني ولایت کې هغوی له دولتي ادارو څخه د یوې کمېټې په جوړولو، د شیعه ګانو مسجدونو او مذهبي مرکزونو ته خبر ورکړ چې د شپې او ورځې په اوږدو کې د لوډسپیکرونو کارول منعه دي او ماتم باید په پرانستې فضا کې ترسره نشي.

51. د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، ۷مه ماده.
52. د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۸مه ماده.
53. هماغه سرچینه، ۲۷مه ماده.

له پروان ولايت څخه يو مرکه شوي ويلي چې د سيمې خلکو به هر کال د محرم په لسيزه کې د ماتم لپاره په ډله ييزه توګه له يو جومات څخه بل ته تګ راتګ کاوه؛ خو سږ کال طالبانو د دې مراسمو د ترسره کېدو اجازه ور نکړه، مذهبي بيرغونه يې ښکته کړل او خپلو وفات شويو عزيزانو ته د دعا لپاره هديرو ته د ورتلونکو ښځو مخه يې ونيوله.

په بادغيس ولايت کې، طالبانو په ښوونځيو کې هلکان زده کوونکي اړيستلي دي چې خپل مذهب ته له پاملرنې پرته د ماسپښين يا مازيګر په لمانځه کې ګډون وکړي، او د نه پاملرنې په صورت کې به له ښوونځي وويستل شي. همداراز، د ۲۰۲۵ کال په جنوري مياشت کې د غزني ولايت د يوې ولسوالۍ امنيه قومندان د صفايي او پخلنځي په برخه کې دوه شيعه کارګرانو ته امر کړی و چې تر څو دی د امنيې قومندان وي بايد په تړلو لاسونو او د حنفي فقهې سره سم د جمعې لمونځ وکړي.

**د ۲۰۲۵ کال د مارچ پر ۲۹مه طالبانو په غزني ولايت کې يو شمېر شيعه مذهبي هيوادوال اړيستل چې د خپلو مذهبي باورونو پر خلاف د يک شنبې په ورځ روژه و نه نيسي او د اختر لمونځ وکړي. په داسې حال کې چې د شيعه ګانو مذهبي مراجعو د دوشنبې ورځ د اختر لومړۍ ورځ اعلان کړې وه. د طالبانو د امربالمعروف اداري د شيعه علماوو د شورا رئيس او د يو جومات امام تر فشار لاندې راوستي ؤ چې د طالبانو له خوا په اعلان شوي وخت د اختر لمونځ وکړي. هغه په خپله وينا کې لمونځ کوونکو ته وويل چې د طالبانو د ګواښونو له امله دغې کار ته اړ شوی دی. همداراز، طالبانو د غزني ولايت په مرکز کې درې شيعه مذهبه ديني عالمان د دوشنبې په ورځ د اختر د لمانځه ترسره کولو له امله ونيول، او په جاغوري او مالستان ولسواليو کې يې يو شمېر شيعه مذهبه هيوادوال چې د خپلو ديني باورونو مطابق يې روژه نيولې وه، د روژې ماتولو او د اوبو څښلو ته يې اړيستل.**

تر دې مخکې، امر بالمعروف اداري په دې ولايت کې د شيعه علماوو د شورا غړي احضار کړل او ورته ويلي يې ؤ چې د رمضان مبارکه مياشت د طالبانو له اعلان سره سمه او د حنفي فقهې پر بنسټ پيل کړي.

## د مذهب بدلولو ته د اسماعيلي شيعه ګانو اړيستل او د حنفي فقهې ورزده کول

ترلاسه شوي معلومات او شواهد ښيي چې طالبانو د ۲۰۲۵ کال د لومړيو شپږو مياشتو په بهير کې په بدخشان ولايت کې ايډيولوژيکو فشارونو او د مذهب بدلولو ته د اسماعيلي شيعه ګانو اړيستلو ته دوام ورکړی. لکه څنګه چې دا مهال په ټولو اسماعيلي مېشته ولسواليو کې طالبانو ديني مدرسې فعالې کړې دي او په زوره د اسماعيلي کورنيو اولادونو ته د حنفي فقهې زده کړه ورکوي. دا هغه اقدام دی چې په خپل ډول کې د بشر حقونو تر ټولو سخت نقض او په ځانګړي ډول د مذهبي آزادۍ نقض ګڼل کيږي. د دې راپور د موندنو پر بنسټ، له تېر کال څخه راپدېخوا، د بدخشان ولايت په شغنان، اشکاشم، خواهان، نسي او مايمي ولسواليو کې د دې مذهبي اقليت د پيروانو ۲۰۳ تنه د مذهب بدلولو ته اړيستل شوي دي.

د ۲۰۲۵ کال د جنوري پر لومړۍ نېټه طالبانو د بدخشان ولايت په دروازه بالا ولسوالۍ کې له اسماعيليانو غوښتي ؤ چې خپل مذهب په حنفي مذهب بدل کړي. له دې ولسوالۍ څخه يو مرکه شوي ويلي چې: «جمعه خان فاتح، د طالبانو يو

افراطي قومندان چې له کلونو راهیسې د اسماعیلیانو په وژلو او ځورولو کې لاس لري، د دروازونو په ولسوالیو کې یې د دې مذهبي اقلیت پر غړو فشار راووړ چې خپل مذهب بدل کړي. هغه دې خلکو ته ویلي چې ستاسو مذهب شرک او کفر دی او راشئ حنفي مذهب ته وګرځئ. وروسته له هغې چې دا قضیه رسنیزه شوه، همدې قومندان یو شمېر اهل تشیع اېیستل چې د کامرې په مخکې اعلان وکړي چې په خپله رضا او له جبر او زور پرته له خپل مذهب څخه اوښتي دي.»
له بل پلوه، ترلاسه شوي معلومات ښیي چې طالبانو په شغنان، زیباک، اشکاشم او دروازونو کې په تکرار سره اعلان کړی چې د اسماعیلي او اهل سنت کورنیو د غړو تر منځ واده روا نه دی او باید و نشي.

څلورمه برخه

# پایله او وړاندیزنه



Photo (C) Adobe Stock

# پایله

لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ده، د ۲۰۲۵ کال په لومړيو شپږو میاشتو کې په افغانستان کې د بشر حقونو نقض، په ځانګړي ډول هدفي او له محاکمې پرته وژنې، خپلسرې او غیرقانوني نیونې، د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو سزاګانو ورکول او د ښځو پر حقونو او آزادیو د محدودیتونو لګول، د پام وړ زیات شوي دي.

حاکمو چارواکو په دې موده کې د دې هیواد د ښځو او نجونو پر ضد د خپلو سازمان شويو او هدفي سیاستونو په چوکاټ کې د تعلیم، کار، آزادانه ګرځېدو او عدالت ته د لاسرسي په برخو کې تبعیض نور هم زیات کړی دی؛ دا هغه چاره ده چې د جنسیتي تعذیب او بشریت ضد جنایت مصداق ګڼل کېدای شي.

زیان منونکو قومي او مذهبي ډلې هم په قصدي او تبعیضي بڼه له کاري فرصتونو، سرچینو او ملي امکاناتو او پرمختیایي پروژو څخه محروم کړای شوي دي. لکه څنګه چې د دې راپور موندنې ښیي، طالبانو په یادو برخو کې پر تبعیضي چلند سربېره، د مذهبي مناسکو په ترسره کولو سخت محدودیتونه لګولي دي.

هممهاله، د مخکني حکومت کارکوونکي، مخالفین او لاریون کوونکي، د بشر حقونو فعالان او خبریالان د تاوتریخجنو او غچ اخستونکو بریدونو هدف ګرځېدلي او په خپلسري او غیرقانوني ډول نیول شوي، تري تم شوي، شکنجه شوي او حتی وژل شوي دي. همدا راز، طالبانو اعتراضي راټولېدنې او لاریونونه په زور او تاوتریخوالي سره ځپلي او لاریون کوونکي یې نیولي، ټپیان کړي او وژلي دي.

د ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو سزاګانو ورکولو کچه، لکه اعدام او په عام محضر کې په دُرو وهلو هم د راپور په دې دوره کې د پام وړ زیاتوالی موندلی، چې د عادلانه محاکمې اصولو او د بشر حقونو د موازینو اړوند د حاکمو چارواکو د بې تفاوتۍ ښکارندويي کوي.

سره له دې، له مجازاتو څخه د مصئونیت د ریښه لرونکي فرهنګ دوام او مسئولیت نه منل، په دې هیواد کې د بشر حقونو د نقض د کچې د زیاتوالي تر ټولو مهم عوامل دي او تر هغه وخته چې د اوسني وضعیت عاملان او مسئولین په اغېزناک ډول د بین المللي قضایي میکانیزمونو له لارې مسئول و نه ګرځول شي د بشر حقونو نقض به همداسې روان وي. که څه هم په وروستیو میاشتو کې د بشریت ضد جنایت د ترسره کولو له امله د طالبانو د یو شمېر مشرانو د محاکمې په برخه کې ښه پرمختګونه شوي دي؛ خو د بشر حقونو پراخ نقض ته رسیدګي او په ځانګړي ډول د دې هیواد د ښځو او نجونو پر ضد د سیستماتیک او سازمان شوي تبعیض پای ته رسول، د ټولو قانوني ابزارو او بین المللي قضایي میکانیزمونو کارول غواړي.

# وړاندیزونه

رواداري په افغانستان کې د بشر حقونو اندېښمنوونکي وضعیت ته د رسیدګۍ لپاره او شته ننګونو او ستونزو ته د رسېدنې په پار حاکمو چارواکو او نړیوالې ټولنې ته لاندې وړاندیزونه کوي.

## حاکمو چارواکو ته:

له حاکمو چارواکو په کلکه غواړو چې تر دې زیات د بشر حقونو نقض ته دوام ورنکړي، او د بشر حقونو په هغو بین المللي اسنادو کې د راغلیو مفادو او مقرراتو د پلي کولو په لاره کې خپل مسئولیت ادا کړي، چې افغانستان ورسره تړلی دی.

له خپلو حقونو او بشري آزادیو څخه په قصدي او هدفي ډول د ښځو محرومول د هیواد د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي پراختیا پر پروسه د تلپاتو او دایمي زیانونو واردولو سربېره، درنې حقوقي پایلې هم له ځان سره لري. د همدې له مخې له حاکمو چارواکو غواړو چې د افغانستان د ښځو او نجونو آزادۍ او انساني کرامت ته په درناوي په دې برخه کې خپل تبعیضي سیاستونه پای ته ورسوي.

له حاکمو چارواکو غواړو چې د ماشومانو د ژوند د حق د تامین او د شته ګواښونو د له منځه وړلو لپاره، د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودېدونکو توکو څخه د ککړو سیمو د پاکولو لپاره اقدام وکړي، او په دې برخه کې له غیردولتي ملي او بین المللي سازمانونو سره اغېزناکه همکاري وکړي.

له حاکمو چارواکو غواړو چې د هیوادوالو د امنیت او مصئونیت د تامین لپاره د قانوني مسئولیتونو د پوره کولو لپاره اقدام وکړي او سمدستي د مخکني حکومت د کارمندانو، د خپلو مخالفینو او منتقدینو او د بشر حقونو د مدافعانو له محاکمې پرته وژنو ته د پای ټکی کېږدي. همداراز، د دې ډول وژنو د مرتکبانو د قضایي تعقیب او سزا ورکولو لپاره د خپلو اقداماتو څخه د قربانیانو کورنیو او د افغانستان خلکو ته راپور ورکړي.

سربېره پر دې، له حاکمو چارواکو غواړو چې د آزادۍ د سلب ځایونو ته د بشرحقونو د سازمانونو د اغېزناک لاسرسي زمینه او امکان برابر کړي، او تر دې زیات د زندانیانو د شکنجه کولو او ورسره د ناوړه چلند مرتکب نشي.

## نړیوالې ټولنې ته

له مجازاتو څخه د معافیت له فرهنګ سره پرله پسې مبارزه او د طالبانو مسئول ګرځول، په افغانستان کې د بشر حقونو د پراخ او سیستماتیک نقض د پای ته رسولو اصلي مخکې شرط دی. نو، له نړیوالې ټولنې په کلکه غواړو چې له ټولو سیاسي، ډیپلوماتیکو او قضایي ابزارو څخه ګټه واخلي او عدالت ته د قربانیانو د لاسرسي ملاتړ وکړي.

له نړیوالې ټولنې غواړو چې د بشر حقونو د مدافعینو د عدالت غوښتونکو مبارزو، په ځانګړي ډول د دې هیواد د ښځو او نجونو د مبارزو ملاتړ وکړي، او په افغانستان کې دننه د لاریون کوونکو د نیونو، جبري تري تم کولو، شکنجه کولو او ربړولو قضیو ته اغېزناکه رسیدګي وکړي.

لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې ده، د مخکني حکومت کارمندان او د هغوی د کورنیو غړي لا هم د طالبانو او نورو نامعلومو وسله والو کسانو له غچ اخستونکو بریدونو سره مخ دي. پر همدې بنسټ، له نړیوالې ټولنې غواړو چې پر حاکمو چارواکو د فشار راوړلو او د مخکني حکومت د کارمندانو د امنیت او مصئونیت لپاره عملي اقدامات ترسره کړي.

له ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې د هدفي، له محاکمې پرته او مشکوکو وژنو په اړه، په ځانګړي ډول د مخکني حکومت د کارمندانو پر ضد د غچ اخستونکو بریدونو اړوند هر اړخیزه څېړنه وکړي او پایلې یې له خلکو او نړیوالې ټولنې سره شریکې کړي.

د ملګرو ملتونو سازمان څخه غواړو چې  د افغانستان د خلکو د ساتنې، په ځانګړي ډول د ښځو او متضرربېدونکو قومي او مذهبي ډلو د ساتنې لپاره پر خپلې دندې او قانوني مسئولیت عمل وکړي، او په دې برخه کې اغېزناک اقدامات او تمهیدات ترسره کړي.

رواداری
RAWADARI